وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا

تحفة الإحسان

تجوید القرآن

(کامل ،آسان او مختصر)

مؤلف: حمدالله «شاکری»

وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا

تحفة الاحسان

تجويد القرآن

مؤلف: حمدالله "شاكري"

نظر ثاني: حکمت الله "نيكمل"

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه 9

لومړی فصل.. 11

د قرآنکریم فضیلت.. 11

د قرآنکریم د فضیلت څو مثالونه د قرآن په ژبه.......................... 11

د قرآن د زده کړي او نورو ته د ور زده کولو فضیلت.................... 13

د قرآنکریم د تلاوت فضائل 14

د ماهر قرآن مقام او منزلت: 15

د قرآنکریم شفاعت: 16

درې ډلې به بې حسابه جنت ته داخلیږي: 17

د قرآن تلاوت د غفلت څخه نجات دی: 18

د قرآنکریم په تلاوت کوونکو د سکنې نزول 19

د قرآنکریم د تلاوت آداب.. 19

دوهم فصل 24

د تجوید دعلم تعریف او اهمیت.. 24

د قرائت د شروع مسائل... 25

په قرائت کې لحن (غلطي) 28

د عربې ژبې توري... 29

حرکات.. 31

دریم فصل... 33

د حروفو مخرجونه(مخارج) 33

أقسام اللسان (د ژبې برخې او اقسام)... 34

الأسنان(غاښـونـــه).. 35

اول: الحلق (ستونی) 37

دوهم: اللسان(ژبه) 37

دریم: شونډې.. 42

څلورم: خیشوم(دپوزې آخره برخه).. 43

پنځم : جوف (د خولې داخلي خالیګاه) 43

څلورم فصل.. 47

د حروفو صفات... 47

۱- استعلاء: 48

۲- استفال: 48

۳- شدت : 48

۴- رخوت : 48

۵- جهر:... 49

۶- همس(مهموسه) : 49
۷- اذلاق :.. 50
۸- اصمات (مصمته):... 50
۹- اطباق :.. 50
۱۰- انفتاح (منفتحه):.. 50
غیر متضاد صفتونه :... 51
۱- انحراف : 51
۲- قلقله :... 51
۳- لین :... 52
۴- صفیر :.. 52
۵- تکریر :... 52
۶- تفشي :.. 52
۷- استطالت :... 52
د ځینومشابه حروفو ترمنځ فرق 53
پنځم فصل... 55
د ساکن نون او تنوین احکام 55
۱- ادغام 55

اقلاب 60
اظهار.. 60
اخفاء 61
د ساکن میم احکام 64
۱ -ادغام : 64
۲- اخفا : 65
۳- اظهار :... 65
غُنه :.. 67
غنه لره پنځه مراتب دي :.. 67
شپږم فصل.. 69
د مد احکام 69
لومړی- اصلي یا طبیعي مد... 70
دوهم- فرعي مد 70
د اصلي (طبیعي) مد ډولونه : 70
۱- مد بدل:.. 70
۲- مد عوض:... 71
۳- اصلي حرفي مد:.. 71

۴- مد صلهء صغرای یا صلهء قصیر:................................ 71

۵- مد تمکین:.. 72

د فرعي مد ډولونه :.. 73

۱- متصل مد :.. 73

۲- منفصل مد :... 74

۳- مثقل کلمي مد:.. 74

۴- مخفف کلمي مد :.. 75

۵- مثقل حرفی مد :... 75

۶- مخفف حرفي مد :... 76

۷- مد عارض لسکون :... 76

۸- د لین لازم مد :.. 76

اووم فصل.. 79

تفخیم او ترقیق.. 79

د «را» د حرف احکام :... 79

د حرف لام احکام :.. 80

د همزه وصل احکام :... 82

د همزه وصل حرکات :.. 83

آتم فصل 86

د وقف او وصل احکام.. 86

د وقف اقسام :.. 86

وقف اضطراري : 87

وقف اختياري :.. 87

وقف اختباري :.. 87

وقف تام :... 88

وقف کافي : 88

وقف حسن :... 89

وقف غير جايز : 89

وقف قبيح :.. 89

د وقف کولو طريقه :... 90

۱- وقف ابدال : 90

۲- وقف اسکان : 90

۳- وقف روم : 90

۴- وقف اشمام :... 91

د وقف نښې : 92

سکت : 95

قطع :.. 95

د تلاوت څلور طريقي... 96

نهم فصل 98

عملي مثال.. 98

د الحمدلله تجويد 98

د قرآنكريم په تلاوت كې ځيني خپري غلطی 102

لسم فصل.. 106

د قرآنكريم قرآءات 106

د [سبعة احرف] په منعى كې د علماؤ اقوال :......................... 106

د قرآئت د اختلاف حكمت :... 108

د صحابه كرامو مشهور قاريان : 108

د علم قرائت اووه مشهور امامان :.. 109

د قرآنكريم تعليم او حفظ :... 111

د قرآنكريم د زدكړې درى لارې : 113

د قرآنكريم د حفظ د پاره څو قاعدې:..................................... 113

د قرآنكريم د حفظ وخت او زمان: 116

مأخذونه :... 118

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمـدلله و الصـلاة و السـلام علي سـيد المرسَـلين و على آلـه و صحبه اجمعين،الحمدُ لله ، الـذي أنـزل القـرآن على خـاتم الأنبيـاء ، ليكون رحمةً لِلعالمين .

امابعد: څوک دې دا فکر نه کوي چې د تجويد علم به يواځې د حافظ او قاري زده وي بلکی د تجويد علم د ضرورت په اندازه په هر مسلمان نر او ښځه فرض دی په هره ورځ کې پنځه لمونځونه او په هر لمانځه کې قرآئت ويل فرض دي .

د قرآنکريم تجويد ډير مهم دی، د ابن مسعود رضی الله نه روايت دی چې هغه ويلي: «جودوا القرآن » (لولئ په ښه شان قرآن)، او هغه دا چې د هر حرف حق ادا شي او حرف د خپل مخرج څخه ادا شي، او په غوره شان تلفظ شي داسې چې په هغه کې اسراف، ظلم او افراط نه وي.

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم دي مطلب ته داسې اشاره کوي: « من أحب أن يقرأ القرآن غضاً كما أنزل فليقرأه على قراءة ابن أم عبد » يعنې ابن مسعود.

ژباړه: څوک چې دا خوښوي چې قرآن داسې ولولي لکه څنګه چې نازل شوی دی پس هغه يې دې د ابن معسود رضی الله عنه په شان لولي .

الله تعالى ابن مسعود رضی الله عنه ته په تجويد کې اوچت مهارت ورکړی وو.

د قرآنكريم داسې ويل جايز نه دي چې چېرې مد نه وي هلته مد وركوي او چيرې چې مد وي هلته قصر كوي او يا په مد كې زياتوالی او كموالی كوي ، يا د وقف پر ځای وصل او د وصل پر ځای وقف كول جواز نلري .

همدارنګه د هر تورې حق ادا شي (حرف د خپل مخرج څخه ادا شي او د حروفو حركات تغير نشي)، د مد او قصر حق ادا شي، د نون ساكن او تنوين حقوق ادا شي او همدارنګه د تجويد نور احكام په نظر كې ونيول شي.

دغه د تجويد كتاب د نړۍ له مهمو معتبرو مراجعو د دقيقو څېړنو وروسته په ساده او روانه لهجه ترتيب شوی

په آخر كښې د لوی خدای (جل جلا له) له دربار څخه غواړم چې د تجويد دغه كتاب د مسلمانانو لپاره ګټور وګرځوي (آمين)

حمدالله "شاكري"

دراسات الاسلامي – الاكاديمية الاسلامية العالمي

لومړی فصل

د قرآنکریم فضیلت

قرآنکریم د الله تعالی د جانبه ټول بشریت ته رحمت، هدایت او لارښوونه ده، قرآنکریم د اسلامي شریعت قانون دی، قرآنکریم د ټول طاغوت، باطل، رزائلو او منکراتو پر وړاندې د حقې او رښتني الهې لارې لارښود کتاب دی، قرآنکریم د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت میراث دی، نن زمونږ په عصر کې نه وحی شته او نه هم پیغمبر بلکي د الله تعالی او د هغه د مخلوق تر مینځ د ارتباط وسیله یوازې قرآن دی، د قرآن په نزول سره د وحی او رسالت سلسله ختمه شوې ده.

هر چا چې د قرآن لاره تعقیب کړه هغه د الله تعالی رضا حاصله کړه، او هر چا چې قرآن پرېښود هغه د طاغوت لاره اختیاره کړه او ګمراه شو.

څوک چې د الله تعالی رضا، هدایت، شرعي قانون او نظام، د عذاب څخه نجات او سعادت غواړي هغوی دې په قرآن منګولې و نیښلوي او څوک چې د قرآن څخه پرته بله لاره او بل قانون غواړي د هغه لپاره هدایت او سعادت نشته.

د قرآنکریم د فضیلت څو مثالونه د قرآن په ژبه

۱ - د الله تعالی رښتنی بر حق کلام دی :

ذَلِكَ الكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ (البقرة ۲).

ژباړه: دا د الله کتاب دی هیڅ شک پکې نشته د پرهیزګارانو لپاره لارښوونکی دی.

۲ - د ټولو خلکو د پاره هدایت دی:
كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ (ابراهیم ۱).
ژباړه: (ای پیغمبره !) دا کتاب مونږ تاته نازل کړی دی چې پرې خلک د هغوی د رب په مرسته له تیارو نه د رڼا په لور را وباسې.
د [الناس] کلمه عامه ده ، د ټولو خلکو لپاره.
۳ - قرآنکریم د پرهیزکارانو لپاره پند او هدایت دی.
وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ (المائده :۴۶).
ژباړه: او هدایت او پند دی لپاره د پرهیزګارانو.
[للمتقین] نه مراد رجوع کوونکي او حق ته غاړه ایښودونکي دي .
هَذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ (آل عمران).
ژباړه :دا قرآن د عامو خلکو لپاره بیان او پرهیزګارانو لپاره هدایت او پند دی.
۴ - د مؤمنانو د پاره شفاء، رحمت او زېری دی.
وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاء وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ (اسراء ۸۲) .
ژباړه :او مونږ تاته هغه قرآن نازلوو چې د مؤمنانو لپاره شفا او رحمت دی.
۵- قرآنکریم د رحمت د نزول سبب دی، الله تعالی فرمايي: وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (اعراف ۲۰۴).
ژباړه: او چې کله قرآن ولوستل شي نو ورته غوږ او چپ شئ ښايې چې پر تاسې رحم وشي.
۶ -قرآنکریم د زړه او روح سکون او اطمینان دی:

الله تعـالی فرمـايي : الَّـذِينَ آمَنُـواْ وَتَطْمَـئِنُّ قُلُـوبُهُم بِـذِكْرِ اللّهِ أَلاَ بِـذِكْرِ اللّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ (رعد:۱۸).

ژباړه: هغه کسان چې ايمان يي راوړی او زړونه يي د الله (جل جلا له) په ياد آراميږي، خبر شئ چې د الله پاک په يادښت زړونه ډاډمن کيږي.

۷ -قرآن د هدايت سيده لاره ده:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: وهو حبل الله المتين، وهو الذكر الحكيم، وهو الصراط المستقيم (الترمذي).

او دا (قرآن) د الله تعالی کلکه رسی ده، او دا (قرآن) د حکيم ذات (جل جلاله) ذکر دی او دا (قرآن) د هدايت سيده او مسقيمه لاره ده.

د قرآن د زده کړي او نورو ته د ور زده کولو فضيلت

حضرت عثمان رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:«خير كم من تعلم القرآن و علمه» (رواه البخاری).

ژباړه: په تاسو کې د ټولو نه بهتر او افضل هغه کس دی کوم چه د قرآن علم حاصل کړي او نورو ته يي هم وښايي .

رسول الله صلی الله عليه وسلم ابوذر رضی الله عنه ته وويل:

«يا أبا ذر! لأن تغدو فتعلَمْ آية من كتاب اللَّه، خير لك من أن تصلي مائة ركعة. ولأن تغدو فتعلَمْ بابا من العلَمْ، عمل بِهِ أَوْ لَمْ يعمل، خير من أَن تصلي ألف ركعة» (سنن ابن ماجه :ضعيف).

ژباړه: ای ابوذره ! کچيرې ته سحر لاړ شي او يو آيت د قرآن پاک زده کړې نو د سل رکعته نفلو نه بهتره دی، او کچيرې يو باب د علم زده کړې که

دغه وخت دې عمل پرې کړی وي یا نه نو د زرو رکعتونو نفلو کولو نه بهتر دی .

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:«مَن قرأ القرآن وعمل به ألبس والداه تاجاً یوم القیامة ضوءه أحسن من ضوء الشّمس في بیوت الدنیا فمَا ظنُّکم بالّذي عمل بهذا» (رواه أبو داود والحاکم، وقال: صحیح الإسناد).

ژباړه: چا چې قرآن ولوستو او په قرآن یې عمل وکړ نو د قیامت په ورځ به د هغه د والدینو په سر باندې داسې تاج ور په سر شي چې د هغې رڼا به د لمر د رڼا نه کوم چې د دنیا په کورونو کې وي ډیره ښایسته وي ددې وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو تاسې څه ګمان کوئ د هغه چا په باره کې چا چه خپله دا عمل کړی وي.

د قرآنکریم د تلاوت فضائل

ابن مسعود رضی الله عنه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي :« مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ ». (رواه الترمذي والدارمی و سلسلة صحیحة).

ژباړه: چا چې د قرآن یو حرف ولوستلو، نو هغه لره یوه نیکي ده او د یوې نیکۍ لس چنده بدله ده (د وضاحت لپاره فرمایي :) زه دا نه وایم (یعني زما مطلب دا نه دی) چه الم یو حرف دی، بلکه الف یو حرف دی لام یو حرف دی او میم یو حرف دی.

ابی سعید خدري رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: « يقول الرب عز وجل من شغله القرآن عن ذكري وعن مسألتي أعطيته أفضل ما أعطي السائلين وفضل كلام الله على سائر الكلام كفضل الله على خلقه ». (رواه الترمذی والدارمی و البیهقی فی شعب الا یمان).

ژباړه: د الله تبارک وتعالی ارشاد دی چه کوم سړی قرآن مجید مشغول وساتلو زما په ذکر سره او زما نه په سوال او دعا کولو سره زه به هغه ته د هغې نه غوره ورکړم کوم چه سوال کوونکو او دعا کوونکو ته يې ورکوم او د نورو خبرو په پرتله د الله تعالی کلام یا خبرې ته داسې عظمت او فضیلت حاصل دی لکه د خپل مخلوق په مقابله کې چه الله تعالی ته فضیلت حاصل دی .

د ماهر قرآن مقام او منزلت:

عن عايشه قالت رسول الله صلی الله علیه وسلم :«الماهر بالقرآن مع السفرة الكرام البررة، والذي يقرأ القرآن ويتتعتع فيه وهو عليه شاق له أجران» (رواه مسلم).

ژباړه: د حضرت عایشه رضی الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: چا چې په قرآن کې مهارت حاصل کړی وي او هغه د یاد نه یا د مخې نه په بهتره طریقي سره او بې تکلیفه روان لولي هغه به د معزز وفا دارو او فرمانبردارو فرښتو سره وي او کوم بنده چه قرآن پاک د ښه نه یادولو یا د نه روانیدو په وجه سره په زحمت او مشقت سره داسې

وايي چـه پـه هغی کې نښـلي نـو هغـه تـه بـه دوه اجرونـه ورکول کيږي (يـو دتلاوت او بل د زحت او مشقت) .

د قرآنكريم شفاعت:

عـن ابى اُمامـة قـال سـمعت رسـول الله صلى الله علـه وسـلم يقـول:«اقـرأوا القـرآن فإنـه يأتي يـوم القيامـة شـفيعاً لأصـحابه ،اقـرَؤوا الزَّهـرَاوَين: البقـرةَ وسـورةَ آلِ عمـرانَ. فإنهمـا تأتِيـان يـومَ القيامـةِ كأنهمـا غَمامتـانِ. أو كأنهمـا غَيايتانِ. أو كأنهما فِرْقانِ من طيرٍ صوافَّ. تُحاجّان عن أصحابهما. اقـرَؤوا سـورةَ البقـرةِ. فـإنَّ أَخْـذَها بركـةٌ. وتركَهـا حسـرةٌ. ولا يسـتطيعُها البَطَلَةُ».(رواه مسلم).

ژباړه: د حضرت امامه رضی الله عنه نه روایت دی چې هغه وايي: د رسـول الله صلی الله عليـه وسـلم نـه مې اورېـدل چې ويـل يې: قـرآن لولـه قـرآن د قيامـت پـه ورځ د خپلـو لوسـتونکو شـفيع جـوړيږی، را ځی بـه خاصـتاً (الزهروين) يعني دا دوه اهم سورتونه (البقره .ال عمران) لوله هغه به د قيامت په ورځ داسې راځي لکه چه د وريځی ټوټه وي يا سايبان وي يا د مرغيـو د سيل په شـان بـه وي. دا دواړه سـورتونه بـه د قيامـت پـه ورځ د خپلـو لوسـتونکو څخـه دفـاع کـوي ،او ويې فرمايل چـه لولـه سـوره بقـره ځکـه چـه ددې حاصـلول ډېـر برکـت لـري، تـرک يې پښـېمانتيا ده او اهـل بطالت ددی طاقت نه لری.

د اهل بطالت نه مراد ساحران او ګوډکر دي يعنې څوک چې سورت البقرة وايي د هغه تلاوت زيات برکت لري او د هغه په لوستونکي باندې سحر او جادو کوم اثر نه کوي.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي :«الصيام والقران يشفعان المعبد يقول الصيام اى رب انى منعته الطعام والشهوات بالنهار فشفعنى فيه ويقول القران منعته النوم بالليل فشفعنى فيه فيشفعان» (رواه البيهقي، احمد و حاكم).

ژباړه: روژه او قران دواړه د بنده شفاعت کوي ،روژه به وايي: اى پروردګاره ! ما دا بنده د ورځې د خوړلو،څښلو او نفسى خواهش پوره کولو نه منع کړى ؤ – نن زما شفاعت دده په حق کې قبول کړه، او قران به وايي ما دى د شپې له خوب او آرام نه منع کړى ؤ الهى ! نن دده په حق کې زما شفاعت قبول کړه، د روژې او قران دواړو شفاعت به ددې بنده په حق کې قبول شي (ددى بنده سره به د مهربانى او مغفرت معامله وشي او دده د پاره به د جنت فيصله وشي او په خاصو رحمتونو سره به وپالل شي).

درى ډلې به بې حسابه جنت ته داخليږي:

«رجلٌ قرأَ القُرآنَ ابْتغاءَ وجْهِ اللهِ وأمَّ به قومًا وهُمْ به راضُونَ، وداعٍ يَدعُو إلى الصلواتِ ابْتغاءَ وجهِ اللهِ، ورجلٌ أحْسنَ فِيما بينهُ وبينَ ربِّهِ، وفِيما بينهُ وبينَ موالِيهِ» (رواه الطبرانى و الترغيب و الترهيب للمنذري).

ژباړه: يو هغه سړى چې د الله تعالى لپاره يې قرآن ولوستلو او داسې امامت يې وکړ چې مقتديان ترې راضى وو، دوهم هغه سړى چې صرف د الله تعالى

د رضا لپاره خلک لمانځونو ته بولي ،دریم هغه سړی چې د خپل رب (جل جلاله) سره هم ښه معامله ساتي او د خپلو ماتحتو(تر لاس لاندې خلکو) سره هم.

د قرآن تلاوت د غفلت څخه نجات دی:

ابی هريرة رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي :«من قرء عشر ايات في ليلة لم يكتب من الغافلين» (رواه حاكم ،حديث صحيح).

ژباړه: څوک چې لس آيتونه د شپې تلاوت کړي هغه به د غافلينو نه شمارل کيږي.

بلکي د قرآنکريم خاص حق دی، په حديث شريف کې راغلی دی چې:

«يا أهل القرآن لا تتوسدوا القرآن واتلوه حق تلاوته من آناء الليل والنهار، وأفشوه وتغنوه وتدبروا ما فيه لعلكم تفلحون، ولا تعجلوا ثوابه فإن له ثوابا» (رواه البيهقي و مشكاة المصابيح).

ژباړه: ای اهل قرآن ! قرآن خپله تکيه او سهارا مه جوړوئ بلکه د ورځې او د شپې په وختونو کې ددې تلاوت کوئ لکه څنګه چه دده حق دی او دا خوروئ او دا په دلچسپۍ سره او په مزه مزه سره لولئ او په دې کې تدبر کوئ او هيله ساتئ چه په دې سره به تاسې کاميابي مومئ او ددې د عاجلې معاوضې اخستلو فکر مه کوئ. د الله تعالی د طرف نه ددې عظيم الشان ثواب او معاوضه پخپل وخت باندې ورکونکې ده.

د قرآنکریم په تلاوت کوونکو د سکنې نزول:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:«مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ» (رواه المسلم).

ژباړه: هیڅ ډله په یوه کور کې د الله تعالی له کورونو څخه د قران د تلاوت او درس او تعلیم د پاره نه جمع کیږي مګر دا چې په هغوی باندې سکون نازلیږي او له هغوی نه رحمت احاطه کیږي او پریښتي هغوی احاطه کوي او الله تعالی هغوی د هغه چا په مجلس کې یادوي چې له ده سره دي.

د قرآنکریم د تلاوت آداب

١ - له بې اودسی او جنابت څخه د بدن پاکوالی.

٢ - مستحب ده چې د تلاوت په وخت کې سړی د قبلی په لوري ناست وي.

٣ - د تلاوت په شروع کې د «اعوذ بالله من الشیطان الرجیم» ویل واجب دي لقوله تعالی:

]فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ] (النحل:٩٨).

ژباړه: او کله چې د قرآن په ویلو پیل وکړې، نو د الله په نوم له رټل شوی شیطان نه پناه وغواړه.

٤ - هر سورت په « بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ» پیل کول په خاص توګه د فاتحی سورة په شروع کې.

٥ - قرآن په ترتیل سره لوستل [ورتل القرآن ترتیلا] د ترتیل په باره کې شا عبدالعزیز رحمه الله په خپل تفسیر کې لیکلي دي چه ترتیل په لغت کې

صفا او واضح لوستلو ته وایې او په شریعت کې د څو څیزونو لحاظ ساتلو سره تلاوت کولو ته وایې چه هغه څیزونه په لاندې ډول دي:

الف – د حروفو صحیح ادا کول یعنی د خپل مخرج څخه چه د ضاد پر ځای دال یا ظا تلفظ نشي.

ب – د وقف پر ځای په ښه شان سره دریدل چه وصل او قطع یعنی یو ځای کول او جلا کول د کلام بې ځایه نشي.

ج – حرکتونه سره کډوډ نشي زور،زیر او پیښ په ښه شان ښکاره ادا شي.

د – آواز لږ اوچتول چې د قرآن الفاظ له ژبې اوزي او عوږونه یې واوري.

ه – قرآن په ښه آواز دردونکې غږ تلاوت کول چې په زړه اثر وکړي دردناک آواز په زړه ژر اثر کوي.

و – شد او مد ښه ښکاره کول چې ددی په ښکاره کولو سره د قرآن لوی شان ښکاره کیږي او له اثر سره مدد کوي.

ذ – د رحمت او عذاب د آیتونو حق ادا کول.

۶ - د تلاوت پر مهال حاضرینو ته واجب دی چې چوپ وي (خبرې به نه کوي) او قرآن ته به غوږ وي ،لقوله تعالی :[وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ](اعراف ۲۰۴). ژباړه: او چې کله قرآن ولوستل شي نو ورته غوږ او چپ شئ ښایې چې پر تاسې رحم وشي.

۷ - قاري او اوریدونکی ته په کار ده چې په خشوع او ادب سره خپل زړه او حواس د قرآن تلاوت ته متوجه کړي چې دا د سکوت له غوښتنې څخه ده لکه په مخکې آیت کې. مګر د قرائت پر مهال فریاد، چیغی او شور ما شور

جوړل د کافرانو او مشرکانو صفت دی ځکه کله به چې قرآن لوستل کیده نـو مشـرکانو بـه یولـه بلـه سـره خبرې چیغې او شورماشـور جوړولـو چې قرآنکریم ورته داسې اشاره کړې ده .

[وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لاَ تَسْمَعُوا لِهَذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ] (فصلت: ۲۶) .

ژباړه: او کافرانو ویل دغه قرآن ته غوږ مه نیسئ او هغه (مهال) بیهوده خبرې کوئ .

۸ - قاري باید تر خپله وسه قرآنکریم په ښه صوت سره تلاوت کړي ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې :«لیس منا من لم یتغن بالقرآن » (البخاري).

ژباړه: هغه له مونږ څخه نه دی چه قرآن په ښه آواز نه لولی. په پورته حدیث شریف کې «یتغن بالقرآن» څخه مطلب دا دی چې د قرآنکریم لوستونکی به قرآن په ښه صوت او حد اقل دومره جهر او زوره سره وایي چې خپله یې واوري، قرآن به په تجوید او خشوع سره وایي او په هغه کې به تدبر کوي تر څو په زړه باندې اثر وکړي. او دعلم حدیث شارحین وایي چې د «لیس منا» څخه مطلب دا نه دی چې څوک په ښه صوت او تدبر او خشوع سره قرآن نه وایي نو هغه د امت اهل دین څخه نه دی، بلکې د هغه مطلب دا دی چې زمونږ په سنتو برابر نه دی یعني داسې کول د سنتو خلاف دی، څوک چې قرآن په تجوید، تدبر او ښه صوت سره نه وایي نو داسې کول ګناه ده.

۹ - قاري بايد خپل صوت د سندرو ويونکو،فاسقانو يا يهودو او نصاراؤ د دينی آوازونو سره تشبح نه کړي او د ښه صوت په کوښښ کې د بې ځايه تکلف نه ځان وساتي.

۱۰- قاري او اوريدونکی به د قرآن په آيتونو کې تدبر او فکر کوي او د هغه د معنی او مقاصدو په پيداکولو کې به فکرکوي.[أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ] (النساء: ۸۲) ژباړه: ايا په قرآن کې تدبر او فکر نه کوي .

۱۱- د قرائت په وخت کې په خشوع کې مبالغه کول او قصداً د ژړا کولو کوښښ مستحب دی تر څو د الله تعالی عظمت او لويې په ياد راوړل شي چې قرآن د هغه کلام دی.

۱۲- د قرآنکريم د اوامرو اطاعت کول او د هغه له مخالفت څخه ځان ساتل ځکه قرآن به د قيامت پر ورځ هغه چا ته حجت ،نور او شفاعت وي چې عمل يې ورباندې کړی وي.

مګر هغه څوک چې قرآن تلاوت کوي خو په قرآن عمل نه کوي او اوامرو څخه يې سرغړونه کوي نو قرآن به د قيامت په ورځ پر داسې کس لعنت وايې.

۱۳- يو مسلمان ته پکار ده چې حد اقل په څلويښتو ورځو کې يو ځل قرآن ختم کړي او سنت ده چې هره ورځ يو جزء تلاوت کړي يا حد اقل د ورځې لس آيته تلاوت کړي ترڅو د غافلانو په ډله کې حساب نه شي.

۱۴- مستحب ده چې قاري د قرآن په ختم کې دعا وکړي نور هم حاضر کړي چې په دعا کې ګډون وکړي ځکه چې دا د دعا د استجابت او د الله تعالی د رحمت د نزول وخت دی.

۱۵- باید د قرآن تلاوت خاص د الله تعالی د رضا لپاره وي ځکه چې د قرآن تلاوت له لویو عباداتو څخه دی نو عبادت د غیر الله لپاره نه وي.

۱۶- د قرآنکریم په تلاوت باندې اجرت اخیستل حرام دي، مګر په تعلیم باندې اجرت د متأخرینو په نزد جایز دي.

و بعض مشائخنا رحمهم الله تعالی استحسنوا الاستئجار علي تعليم القرآن لظهور التوالي في الامور الدنية فهذا ما افتى به المتاخرين مخالفين ما ذهب اليه امام وصاحباه بالضرورة فی عدم جواز الاستئجار على تلاوة (ردالمختار كتاب الاجارة ۵۶,۵۵,۶).

وقال في "الهداية": الأصل أن كل طاعة يختص بها المسلم، لا يجوز الاستئجار عليها عندنا لقوله -عليه السلام-: (اقرؤوا القرآن ولا تأكلوا به).

۱۷- د تلاوت د سجدې په اوریدو سره د تلاوت سجده کول.

دوهم فصل

د تجوید دعلم تعریف او اهمیت

۱- د تجوید تعریف :

تجوید په لغت کې تحسین (ښه او ښایسته کولو) ته وایي په اصطلاح کې عبارت دی له اداء کولو د هر توري (حرف) پخپل مخرج (ځای د اداء) کې، د آدابو او صفاتو له مراعاتولو سره .

۲- د تجوید د علم موضوع یا هدف :

د قرآن لوستل په صحي توګه لکه څنګه به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابو کرامو رضی الله عنهم ته قرآن کریم لوستلو،یعنی د قرائت د احکامو حفاظت کول لکه: ادغام ، اظهار ، اقلاب ، اخفاء ، مد ، غُنه په خپل ځای کې عملي شي او حروف له خپل مخرج څخه ادا شي یعنې د تجوید د ټولو احکامو په نظر کې نیولو سره د قرآن کریم واضح لوستل دي .

۳- د تجوید د زده کړې حکم :

د تجوید د علم زده کړه پر مسلمانانو باندې فرض کفایي ده ، یعنې که ځینې کسان یې حاصل کړي د نورو غاړه ورباندې خلاصیږي او که ټول یې ترک ټول به ګناهکار وي .

مګر په تجوید باندې عمل کول یا د تجوید تطبیق په قرائت کې پر هر مسلمان نارینه او ښځینه فرض عین دی .

يرى أكثر علماء التجويد أن تعلم التجويد فرض كفاية على المسلمين ، إذا قام به البعض سقط الإثم عن الباقين، وإن لم يقم به أحد أثموا جميعا. أما العمل به، أي تطبيق أحكام التجويد أثناء القراءة، ففرض عين على كل مكلَّف (برنامج الأحكام التجويد- براوية حفص عن عاصم) .

۴- د تجويد اهميت :

د قرآن کريم لوستل په داسې ډول چې له غلطيو مخنيوی وشي يعني د تجويد د احکامو مراعاتول، که د تجويد احکام مراعات نشي نو لحن (غلطي) مينځ ته راځي.

د قرائت د شروع مسائل

استغاذه او بسمله (اغوذ بالله او بسم الله) :

اول- استغاذه :

تعريف : استغاذه د شيطان له شر او وسواسو څخه پر الله تعالى پنا غوښتلو ته وايي چې متن يې داسې دی [أعوذ بالله من الشيطان الرجيم] او يا [أعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم] .

د استغاذه احکام :

۱- د قرائت د شروع په وخت کې د استغاذه ويل واجب دي ، لقوله سبحانه وتعالى : لقوله تعالى: [فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ] (النحل:۹۸).

ژباړه: او کله چې د قرآن په ويلو پيل وکړې، نو د الله په نوم له رټل شوی شيطان نه پناه وغواړه.

۲- د لمانځه په مینځ کې مطلقاً خفیه (په پټه) ویل کیږي هغه که جهري ، یا خفیه ، فرض او یا نفل لمونځ وي .
۳- د لمانځه ځخه بهر په خفیه قرائت کې خفیه لوستل کیږي .
۴- په جهري قرائت کې کچیرې قاري تنها وو اختیار لري که خفیه یې وایي او یا په جهري توګه مګر که قرائت په مجلس کې کېده په جهر به لوستل کیږي .
۵- کچیرې قرائت قصداً قطع شي لکه : خبرې کول ، خوراک کولو او نور ، نو په دې صورت کې د استغاذه اعاده او لوستل ضرور دي .
۶- کچیرې قرائت د ضرورت پر بنا قطع شي لکه : توخی ، پرنجی او نور ، نو په دې صورت کې د استغاذه اعاده کول لازم نه دي .
۷- د درس په پیل کې د استغاذه په جهر لوستل .

دوهم - بسمله :

تعریف : بسمله په لغت کې په ژبه سره د الله تعالی نوم اخیستل او په اصطلاح کې (بسم الله الرحیم الرحیم) ویلو ته وایي .

د بسمله احکام :

۱- د سورتونو په پیل کې د بسم الله ویل سنت دي پرته له سورت توبه ځخه .
۲- کچیرې قرآئت د سورت له کومې برخې پیل شي هغه که سوره توبه یا نور سورتونه وي د بسم الله ویل مستحب دي .

د استغاذه او بسمله د فصل (قطع) او وصل (پیوسته) صورتونه:

کله چې د اغوذ بالله او بسم الله په ویلو کوم سورت پیل کیږي پرته له سوره توبه څخه او د سورت له کومې حصې څخه پیل کیږي نو د اسغاذه ، بسمله او سورت د قطع او وصل څلور جایز صورتونه دي :

۱- فصل یا قطع کل : په دې معنی چې د اغوذ بالله او بسم الله ویلو په آخر کې پر دواړو وقف وشي او بیا سورت پیل شي .

۲- وصل کل : په دې معنی چې اغوذ بالله له بسم الله او بسم الله ویل له سورت سره وصل شي .

۳- فصل اول وصل ثاني : په دې معنی چې د اغوذ بالله ویلو په آخر کې وقف وشي او بسم الله د سورت له برخې سره وصل شي .

۴- وصل اول فصل ثانی : په دې معنی چې اغوذ بالله د بسم الله سره وصل شي او د بسم الله په آخر کې وقف وشي او بیا سورت پیل شي .

د بسمله او سورة ترمینځ د فصل او وصل صورتونه :

۱- فصل یا قطع کل : په دې معنی چې د مخکې سورت په آخر باندې وقف وشي او بیا په بسم الله وقف او بیا بل سورت پیل شي.

۲- وصل کل : په دې معنی چې آخر د سورت له بسم الله او بسم الله له وروسته سورت سره وصل شي.

۳- فصل اول وصل ثاني : په دې معنی چې په آخر د سورت وقف وشي او بسم الله د راتلونکي سورت سره وصل شي .

۴- وصل اول فصل ثاني : په دي معنی چي آخر د سورت له بسم الله سره وصل شي او بسم الله په آخر باندي وقف وشي .

د استغاذه او بسمله د قطع او وصل خلاصه

التعوذ - البسملة	سورت	حكم
قطع	قطع	جايز
قطع	وصل	جايز
وصل	وصل	جايز
وصل	قطع	جايز

په قرائت کې لحن (غلطي)

په قرائت کې لحن (غلطي) په دوه ډوله ده : لحن جلي او لحن خفي .

۱- جلي لحن :

داسې ښکاره غلطي ده چې د کلمې په معنی کې بدلون رامينځ ته شي لکه په لاندې حالاتو کې:

الف) : د يوه حرف بدليدل پر بل حرف باندې مثلاً د "ثاء" حرف په "سين" سره تلفظ يا د "ذال" حرف په "زاء" سره تلفظ کول، داسې چې حرف له خپل مخرج څخه ادا نشي دا يوه ښکاره غلطي ده .

ب) : د کلمې د حروفو يو حرف کمول لکه "هُمُ الْخَاسِرُونَ" داسې لوستل "هُمُ الْخَاسِرُنُ" د "و" حرف څرګند نه کړي .

ج) : په حرکاتو کې بدلون (زور ، زیر ،پیښ) مثلاً د "یُوصَلَ" په کلمه کې " یُوصَلُ" د لام حرف د زور پر ځای پیښ تلفظ شي .

د) : یوه کلمه داسې تلفظ شي چې د هغه د حروفو په تعداد کې زیاتوالی راشي ، د مثال په ډول "الحمدلله" د "دال" حرف د پیښ او د "ها"حرف زېر داسې اوچت تلفظ شي چې د "واو" یا "یاء" آواز ترې پیدا شي لکه: په «الحمد» کې د "دال" حرف پیښ دومره کش کړ شي چې «واو» تلفظ شي لکه : الحمدو.

د جلي لحن مرتکب کیدل حرام دي او په ځېنو ځایونو کې د هغه له کبله معنا بدلیږي او لمونځ فاسدیږي .

خفي لحن :

خفی لحن (پټه غلطي) د هغو قواعدو پرېښودل چي د تورو د ښایست سره اړه لري .

مثلاً هر کله چې د "را" حرف زور یا پیښ ولري " را" ډکه لوستل کیږي او که څوک هغه باریکه ولولي پټه غلطي بلل کیږي، یا دا چې په کوم ځای کی اخفاء یا اظهار ونه شي ، او یا دا چې په یوه کلمه کې ادغام کیږي ادغام ونه شي بلکي د ادغام پر ځای اظهار تر سره شي ، چې په پورته صورتونو کې خفي لحن مینځه راځي او داسې کول مکروه دي ځان ساتل ورڅخه پکار دي .

د عربې ژبې توري

د عربې ژبې ۲۸ توري دي چې په لاندې ډول دي :

ا (الف)، ب (با)، ت (تا)، ث (ثا)، ج (جيم)، ح (حا)، خ (خا)، د (دال)، ذ (ذال)، ر (را)، ز (زا)، س (سين)، ش (شين)، ص (صاد)، ض (ضاد)، ط (طا)، ظ (ظا)، ع (عين)، غ (غين)، ف (فا)، ق (قاف)، ک (کاف)، ل (لام)، م (ميم)، ن (نون)، ه (ها)، و (واو)، ی (يا).

د عربۍ ژبې توري په دوه ډوله ويشل شوي دي شمسي او قمري :

شمسي توري :

شمسي توري هغه تورو ته وايي چې کله په هغه باندې (ال) علاوه شي نو لام نه تلفظ کيږي بلکي شمسي توری مشدد ګرځي لکه:الشّجرة ، السّماء ، السّبت.

شمسي توري څلوارلس دي لکه :(ت – ث – د – ذ - ر- ز–س –ش –ص – ض –ط –ظ –ل- ن).

قمري توري :

قمري توري هغه توري ته وايي چې کله په هغه باندې (ال) علاوه شي نو لام تلفظ کيږي.

قمري توري هم څلوارلس دي لکه : (همزه – ب –ج –ح –خ –ع –غ –ف –ق –ک –م –و –ه –ی) .

د الف او همزې تر مينځ فرق :

د الف توری هميشه ساکن (بې حرکته) وي او همزه د سکون څخه علاوه حرکت هم قبلوي .

د همزې ډولونه :

همزه دوه قسمه ده : همزه وصل (ا) او همزه قطع (أ) .

همزه وصل : هغه همزه ده چې کله د کلمې په پیل کې راشي تلفظ کیږي مګر کله چې د کلمې په مینځ کې راشي نه تلفظ کیږي .

د کلمې په پیل کې لکه :العمَّ ، المدرسة

د کلمې په مینځ کې لکه : ما اسْمُکَ

همزه قطع : هغه همزه ده چې په هر حالت کې تلفظ کیږي .

حرکات

په عربي ژبه کې درې قسمه حرکات دي لکه : فتحه (زَبر ـَ) ، کسره (زیر ـِ) ، ضمه (پیښ ـُ) .

سکون :

سکون : سکون عبارت د یوې ورې داېرې څخه دی چې د توري د پاسه لیکل شوی وي چې د عدم حرکت (حرکت نه لرلو) معنی لري . لکه : حَسَنْ

تنوین :

تنوین عبارت دی له دوه زبرونو ، دوه زېرونو او دوه پیښونو څخه (ـً،ـٍ ، ـٌ) چې د حرف د پاسه یا لاندې لیکل شوي وي او تنوین په اصل کې زیات شوي ساکن نون دی چې علماؤ د دغه نون زائده پر ځای تنوین ټاکلی دی تر څو د اصلي نون سره یې فرق وشي او تنوین یوازې په اسم کې راځي،لکه : جدیداً ، محمدٌ .

شد :

الشدة په لغت کې شدت او سختی ته وايي او په اصطلاح کې کله چې دوه توري يو په بل کې مدغم يا داخل شي مشدد (شد لرونکی) لوستل کيږي يعني شد د حروفو د تکرار نښه ده لکه : مدَ = مدَدَ = مدّ

دریم فصل

د حروفو مخرجونه(مخارج)

مخارج د مخرج جمع ده او مخرج د وتلو ځای ته وایي .

د تجوید د علم په اصطلاح کې مخرج هغه ځای دی کوم چې توری یا حرف ورڅخه ادا کیږي .

مخرجونه عموماً په دوه ډوله دي .

- اجمالی مخرجونه
- تفصیلی مخرجونه

اجمالي مخرجونه پنځه دي:

الحلق (ستونی) .

اللسان (ژبه) .

الشفتان (شونډې) .

الخیشوم (د پزې آخري برخه) .

الجوف (د خولې خالیګاه) .

تفصیلي مخرجونه :

د تفصیلي مخرجونو په شمیر کې د علماء کرامو تر مینځ اختلاف دی .

لومړی قول : د جمهورو قرآء کرامو په نزد د تفصیلي مخرجونو شمیر اوولس (۱۷) دی .

دوهم قول : د سیبیویه او الشاطبي په نزد د تفصیلي مخرجونو شمیر (۱۶) دی ځکه چې د هغوی په نزد «جوف» مخرج نه دی .

دریم قول : د فراء په نزد د تفصیلي مخرجونو شمیر (۱۴) دی ځکه د هغه په نزد (جوف) مخرج نه دی او همدارنګه د «لام، راء ، نون) مخرج یو بولي. راجح او جمهور قول دا دی چې د حروفو د مخرجونو شمیر اوولس (۱۷) دی چې ان شاء الله په تفصیل سره به بیان شي .

مخکې لدې چې د حروفو مخرجونه وپیژنو لمړی باید د یوه حرف د مخرج د ادا کولو طریقه زده کړو هغه داسې ده کله چې د یوه حرف مخرج معلومول لومړی همغه حرف ساکنوو(زور ، زیر او پیښ یې لرې کوو) او یوه زور لرونکې همزه وربانديې داخلوو هر چیرې چې آواز ختم شي همغه د حرف مخرج دی .

مثلًا که زور لرونکې همزه (اَ) پرساکنه ب (بْ) داخله کړو نو (اَبْ) ترې جوړیږي ،او کله یې چې تلفظ کړو نو معلومیږي چې د (ب) مخرج د دواړو شونډو ترمینځ دی کله چې سره ولګیږي .

پخوا لدې چې د حروفو مخرجونه بیان کړو لومړی باید د ژبې برخې او د غاښونو نومونه او تفصیل بیان کړو ځکه څو پورې چې د ژبې برخې او غاښونه ونه پیژندل شي تر هغه پورې د مخارجو پیژندل ګران دي .

أقسام اللسان (د ژبې برخې او اقسام)

أقصى اللسان (د ژبې آخري برخه) .

وسط اللسان (د ژبې منځنۍ برخه) .

حافة اللسان (د ژبې اړخ) .

طرف اللسان (د ژبې بیرونی برخه)

رأس اللسان (ژبې سر یا څوکه) .



الأسنان(غاښونـــــه)

د بالغ انسان د غاښونو شمیر زیاتره (۳۲) وي چې (۱۶) یې په پاسنۍ او (۱۶) په لاندینۍ زامه کې موقعیت لري.

غاښونه عموماً پر څلورو برخو ویشل شوي دي(ثنایا ، رباعیات ، انیاب ، اضراس).

۱- ثنایا غاښونه : مخامخ څلور غاښونه دي چې پورته یې ثنایا علیا او کښته ته یې ثنایا سفلی بلل کیږي او ټول څلور کیږي چې دوه یې پورته اودوه یې ښکته موقعیت لري.

۲- رباعي(یا رباعیات) غاښونه: د ثنایا غاښونو تر څنګ چې یو ښي اړخ ته او بل هم کیڼ اړخ ته واقع وي دوه په پاسنۍ ژامه او دوه په لاندینۍ ژامه کې موقعیت لري چې ټول څلور کیږي .

۳- انیاب غاښونه : د رباعي غاښونو ښي او کیڼ اړخ ته دوه پورته او دوه کښته غاښونه دي چې ټول څلور کیږي (ناب په عربي کې نیش یا میخ شکله ته وایي یعنې ډیر تیز یا تیره غاښونه دي).

۴- اضراس غاښونه: اضراس شل غاښونه دي چې لس يې په پورته ژامه کې او لس يې په ښکته ژامه کې موقعيت لري چې پر دريو برخو ويشل شوي دي:

الف) ضواحک: ضواحک څلورغاښونه دي چې د انيابو په څنګ کې موقعيت لري (دوه يې پورته اودوه يې ښکته دي).

ب) طواحن : طواحن د ضواحکو په څنګ کې دولس (۱۲) غاښونه دي چې شپږ يې پورته اوشپږ يې ښکته موقعيت لري چې دا غاښونه د ژرندې دغاښونو په نامه هم يادېږي.

ج) نواجذ : نواجذ څلور آخري غاښونه دي چې د طواحنو په څنګ کې موقعيت لري دوه يې پورته اودوه يې ښکته دي.



اوس بـه د الله تعـالی پـه توفیـق سـره د حروفـو مخرجونـه پـه تفصیل سـره بیان کړو.

اول: الحلق (ستونی)

په حلق کې دری مخرجونه دي (اول د حلق، وسـط یا مابین د حلق، آخر د حلق).

له ستوني یا حلق څخه شپږ حروف په لاندې ډول ادا کیږي :

د حلق لـه شـروع یا اولي برخي څخـه یعنې د خـولې لـه طرفـه "غ" او "خ" ادا کیږي لکه: (أَغْ) (أَخْ).

د حلق له منځنۍ برخې څخه "ع" او "ح" ادا کیږي لکه: (أَعْ) (أَحْ).

د حلـق لـه آخـري برخې څخـه یعنی د سـینې لـه طرفـه "همـزه" او" هـا" ادا کیږي لکه (أَءْ) (أَهْ)

پدې هکله یو شاعر داسې وایي:

حرف حلقی شش بود ای باوفا همزه ها وعین حا وغین وخا

دوهم: اللسان(ژبه)

په ژبه کی لس مخرجونه دي چې ۱۸ حروف ورڅخه ادا کیږي.

۱- د"ق" مخرج :

کلـه چې د ژبی پـای یـا آخـره برخـه لـه نـرم تـالـو سـره ولګیږي د "ق" تـوری ادا کیږي .

۲- د "ک" مخرج:

د "ک" مخرج هم د"ق" په څیر د ژبې پای له تالو سره لګېدو سره تلفظ کیږي مګر دومره توپیر دی چې د قاف له مخرج څخه لږ بیرون د خولې طرف ته او د هغه د تلفظ پر مهال کوچنۍ ژبه آزاده وي او د ژبې په پای پورې نه سریښیږي .



(ق)



(ك)

۳- د " ض " مخرج :

کله چې د ژبې یو اړخ له ښي یا چپ طرف پاس اضراس غاښونو له داخلي دیوال یا څنګ سره ولګول شي د "ض" توری تلفظ کیږي،البته له چپې خوا څخه یې ادا کول آسانه دي .

مګر له ښی خوا څخه یې ادا کول زیات دي .

إحدى حافتي اللسان مع ما يحاذيها من الأضراس العليا: ومنه يخرج أدق حروف العربية نطقا وهو حرف الضاد (ض). وخروج الضاد من حافة

اللسان اليسرى أسهل وأكثر استعمالا من الحافة اليمنى (برنامج الاحكام التجويد) .

خو پام باید وشي چې ض د "ظ" او "ذ" په څیر ادا نه شي .





(ض)

۴- د " ل " مخرج :

کله چې د ژبې بیروني برخه یا «طرف اللسان» د پاس ثنایاغاښونو له تالو سره ولګول شي د " ل" توری ادا کیږي .

او ځینې علماء کرام وایي : کله چې د ژبې بیرونی طرف یا د ژبې اړخ د پاسنیو ثنایا ، انیاب ، رباعي او ضواحک له تالو سره ولګول شي د " ل" توری ادا کیږي .

۵- د " ن " مخرج :

کله چې د لام د مخرج نه لږ کښته د ژبې بیرونۍ برخه (چې په عربی کی ورته طرف لسان او په فارسي کې ورته نوک زبان وایي) د پاس تالو سره د ثنایا ، رباعیاتو غاښونو مخامخ ولګول شي د "ن" توری اداکیږي .

۶- د " ر" مخرج :

کله چې د ژبې نوک یا طرف لسان او د هغه د شاه څه برخه د پاس غاښونو (ثنایا ، رباعیاتو) د تالو سره ولګول شي د "ر" توری ادا کیږي .

۷- د "د،ت, ط" مخرج :

کله چې د ژبې نوک د پورته ثنایاوو له بیخ سره ولګیږي د "د" ، "ت" او"ط" توري ادا کیږي ،خو دومره توپیر شته چې د" ط " حرف د استعلاء د صفت د لرلو له کبله ډک ادا کیږي او د "دال" او"تا" حروف تش یا باریک ادا کیږي .



(ت،د) (ط)

۸- د"ذ،ث ،ظ" مخرج :

کله چې د ژبې نوک د پورته ثنایاوو له څوکې(سر) سره ولګیږي د (ذ،ث ، ظ) حروف ادا کیږي خو دومره توپیر شته چې د " ظ " حرف د استعلاء د صفت د لرلو له کبله ډک ادا کیږي او د " ذال " او" ثا " حروف تش یا باریک ادا کیږي .



(ظ)



(ث،ذ)

۹- د"س،ز،ص" مخرج :

کله چې د ژبې څوکه د لاندنیو ثنایاوو د داخل طرف سره ولګول شي نو د "ز،س،ص" توري ادا کيږي خو دومره توپیر شته چې د" ص" حرف د استعلاء د صفت د لرلو له کبله ډک ادا کيږي او د " ز " او" س " حروف تش یا باریک ادا کيږي .



(ز،س)



(ص)

۱۰- د"ج،ش،ي" مخرج :

کله چې د ژبې منځنۍ برخه د د پاس تالو سره ولګېږي نو د "ج ، ش،ي" توري تلفظ کيږي .

او دلته د «ي» د حرف څخه غير مدي «ي» مطلب ده .

دريم: شونډې

په شونډو کښې دوه مخرجونه دي: د "ف" مخرج او د "ب، م، و" مخرج چې څلور توري په لاندې ډول ورڅخه ادا کيږي :

۱- کله چې پاسنۍ او لاندينۍ شونډې سره ولګيږي د "ب" او "م" توري ادا کيږي خو دومره توپير شته چې "ب" د شونډو له لانده (داخل) طرف څخه او "م" د شونډو له وچ(بيرون) طرف څخه ادا کيږي او د "م" په ادا کولو کې د خيشوم مخرج هم برخه اخلي .

او کله چې دواړه شونډې د ګل د غوټۍ په څېر راغونډې شي او سره ونه لګول شي بې مده "و" ادا کيږي .

۳- کله چې د لاندينۍ شونډې ګېډه د پورته ثنايا غاښونو له څوکو سره ولګول شي د " ف" توری ادا کيږي .



(ف)



(و)

ځلورم: خيشوم(دپوزې آخره برخه)

له خيشوم څخه غنه ادا کیږي(غنه هغه آوازته وايي چې د غرڅه له آواز سره مشابه وي يعنې کله چې غرڅه خپل بچي ته آواز کوي نو آواز یی له غنی سره مشابه وي) ، کله چې نون اومیم مشدد واقع شي او یا غنه لرونکی ادغام مینځته راشي ، غنه ادا کیږي.

پنځم : جوف (د خولې داخلي خالیګاه)

له دغه ځای څخه دری مد لرونکي توري ادا کیږي .

١- "و" کله چې ساکن وي او له هغه څخه مخکې حرف پیښ ولري لکه "المغضُوْب "

2- "ی" کله چې ساکنه وي او مخکې حرف یې زیر ولري لکه " نستعِیْن "

3- "الف" کله چې ساکن وي او له هغي مخکې حرف زور ولري لکه " قَاْلَ" .

چې ښه مثال يې(نُوْحِیْهَا) دی.

د مخارجو د لنډيز جدول

شمېره	عام مخرج	د مخارجو شمېر	خاص مخرج	الحروف توري	مسلسل نمبر
۱	الحلق (ستونی)	۱	اقــص الحلــق (د ســـتوني آخري برخه)	ء ، ها	۱
		۲	وســـط حلـــق (د ســـتوني مينځني برخه)	ع،ح	۲
		۳	أدنى الحلق (د ستوني لومړۍ برخه)	غ،خ	۳
۲	اللسان (ژبه)	۱	اقصى اللسان (كله چې د ژبې پـاى د نـرم تـالو سـره ولګـول شي) .	ق	۴
		۲	د «ق» د مخرج سره نږدې لږ د خولې بيرون طرف ته .	ک	۵
		۳	وسط اللسان (كله چې د ژبې مينځنۍ حصه د مقابل تـالو سره ولګول شي) .	ج،ش،ى	۶
		۴	حافة اللسان (كله چې د ژبې	ض	۷

			یواړخ لـه ښي یا چپ طرف پـــاس اضـــراس غاښـــونو د داخلي دیـوال سـره ولګـول شي) .		
		۵	طرف اللسـان(کله چې د ژبې څوکـــه د پـــاس د ثنایـــا غاښـونود تـالو سـره ولګـول شي) .	ل	۸
		۶	طرف اللسـان (کله چې د ژبې څوکه د پاس ثنایا ،رباعیـاتو د تالوسره ولګول).	ن	۹
		۷	طرف اللسـان (کله چې د ژبې څوکـه د پـاس تالوســره د رباعیـاتو اوثنایـاوو غاښـونو مینځ کښې ولګول شي).	ر	۱۰
		۸	طرف اللسـان (کله چې د ژبې نـوک د پورتـه ثنایـاوو لـه بـیخ سره ولګیږي).	د،ت،ط	۱۱
		۹	طرف اللسـان (کله چې د ژبې نـــوک د پورتـــه ثنایـــاوو لـــه	ث،ذ ، ظ	۱۲

			ثوکې (سر) سره ولګیږي).		
		١٠	رأس اللسان (کله چې د ژبې ثوکه د لاندنیو ثنایاوود داخلي طرف سره ولګیږي).	س،ص، ز	١٣
٣	الشفتان	١	مابين الشفتين (کله چې پاسنۍ او لاندینۍ شونډې سره ولګیږي) .	ب،م ،و	١٤
		٢	کله چې لاندې شونډه د پاس غاښونو سره ولګول شي .	ف	١٥
٤	جوف	١	الجوف (د خولې خالیګاه ثخه راوځي)	ا،و ،ي	١٦
	الأنف (پزه)		الخيشوم (د پوزې له پیخ ثخه راوځي)	غنه	١٧

څلورم فصل

د حروفو صفات

صفات د صفت جمع ده او صفت د حرف د ادا په وخت کې داسې کیفیت دی چې له بل حرف سره یې فرق وشي د حروفو د صفاتو یوه ګټه همدا ده چې د یو شان مخرج یا قریب المخرج حروفو فرق وشي .

د صفاتو په شمیر کې د علماؤ اختلاف دی چې ځینې علماء شمیر اوولس (۱۷) او د ځینې په نزد څلویښت او څلور څلویښت دي .دلته هغه قول چې شمیر یې اوولس دی تر مطالعې لاندې نیول شوی دي.

صفات په دؤ برخو ویشل شوي دي متضاد او غیر متضاد .

متضاد صفات :متضاد هغه صفات دي چې د هغه لپاره ضد وي او دا پنځه صفات دي چې له ضد سره یی لس صفات کیږی.

غیرمتضاد صفات : غیر متضاد هغه صفات دي چې د هغه لپاره ضد نه وي او دا اووه صفات دي .

متضاد صفات : متضاد صفات پنځه دي چې له ضد سره یی لس کیږي لکه په لاندې جدول کې :

استعلاء	ضد	استفال
شدت	ضد	رخوت
جهر	ضد	همس (مهموسه)
اطباق	ضد	انفتاح
اذلاق	ضد	اصمات

۱- استعلاء: په لغت کې لوړوالي ته وایي او په علم تجوید کې د حرف د ادا کولو په وخت کې ژبه تالو ته پورته کیږي ،یعنې کوم حروف چې دا صفت لري اوچت او ډک ادا کیږي .

داسې چې د اداکولو په وخت کې د ژبې بیخ پورته تالو ته لوړیږي د لوړېدو له کبله دا تورې ډک تلفظ کیږي .

حروف یې اووه دي چې پدې جمله کې جمع شوي (خص ضغط قظ) .

۲- استفال: استفال د استعلاء ضد دی په لغت کې ټیټوالي ته وایي او په علم تجوید کې د حرف د ادا کولو په وخت کې د پاس تالو څخه د ژبې بیخ ټیټیږي، یعنې د ادا کولو په وخت کې د ژبې بیخ تالو ته نه لوړیږي له دې کبله دا توري نرم او نازک ادا کیږي.

د استعلاء د حروفو پرته د هیجاء نور ټول حروف د استفال صفت لري لکه :(ء ب ت ث ج ح د ذ ر ز س ش ع ف ك ل م ن ه و ي ا) ،او کوم

۳- شدت : په لغت کې سختي یا قوت ته وایي او په علم تجوید کې د صوت یا غږ بندېدل دي د حرف د ادا کولو په وخت کې او کوم حروف چې دا صفت لري په سختی سره ادا کیږي .

یعنې د ادا کولو په وخت کې په مخرج کې آواز په سختی سره ودریږي او د آرامتیا په وخت کې آواز ورباندې بندیږي .

حروف یې اته دي چې په (أجد قط بکت) جمله کې جمع شوي دي .

۴- رخوت : د شدت ضد دی په لغت کې سستوالي یا نرمی ته وایي او په علم تجوید کې جریان د صوت دی د حرف د ادا کولو په وخت کې او کوم

حروف چې دا صفت لري په کمزورۍ او نرمۍ سره اداکيږي، يعنې د ادا کولو په وخت کې په مخرج کې آواز جريان پيدا کوي .

د شدت د حروفو پرته د هيجاء ټول حروف د رخوت صفت لري لکه :

:(ث ح خ ذ ز س ش ص ض ظ غ ف ه و ي ا) .

۵- جهر: په لغت کې ښرګندوالي يا اعلان ته وايي او په علم تجويد کې د ساه بندېدل دي د حروفو د ادا کولو په وخت کې او ضد يې همس دی.

يعنې د ادا کولو په وخت کې په مخرج کې آواز يا کاملاً بند شي او يا يوه برخه د هغه بنده شي.

حروف يې (عظم وزن قاري ذي غض جد طلب) جمله کې جمع شوي دي.

کله چې نوموړي حروف ساکن او يوه زور لرونکي همزه وربانديې داخله شي نو ساه يا کاملاً بنديږي او يا يې يوه برخه بنديږي نو که ساه کاملاً بنده شوه مونږ وايو چې پدې حرف کې د جهر صفت ډير قوي دی او که يې يوه برخه بنده شوه نو وايو چې پدې حرف کې د جهر صفت متوسط دی او که له هغه نه هم لږ بنده شي نو وايو چې د جهر صفت ضعيف دی.

۶- همس(مهموسه) : په لغت کې پټوالی يا کرار ويلو ته وايي او په علم تجويد کې د ساه جريان دی د حرف د ادا کولو په وخت کې، يعنې د ادا کولو په وخت کې په مخرج کې ساه نه بنديږي بلکه جاري وي او په آواز کې يو ډول ښکته والی راځي چې ښه مثالونه يې لکه آسلفتم ، اهدنا ، واشکرو لي او داسی نور.

حروف يې لس دی چې عبارت دی له (فحثه شخص سکت).

۷- اذلاق : په لغت کې تیزی ته وایي او په علم تجوید کې کوم حروف چې دا صفت لري د ژبې له ارخ او شونډو نه په تیزی او آسانۍ سره ادا کیږي .

حروف یې شپږ دی چې عبارت دی له (فر من لب) .

۸- اصمات (مصمته): د اذلاق ضد دی په لغت کې چوپوالي ته وایي او په علم تجوید کې کوم حروف چې دا صفت لري د تلفظ په وخت کې ثقیل او سخت ادا کیږي .

حروف یې ۲۳ دی عبارت دی له (جز غش ساخط صید ثقة إذ وعظه یحضك).

۹- اطباق : په لغت کې تماس او نښلیدو ته وایي او په علم تجوید کې کوم حروف چې دا صفت لري د حروفو د ادا په وخت کې د ژبی مینځ د پورته تالو سره نښلي .

حروف یې څلور دي :(ص ض ط ظ) .

۱۰- انفتاح (منفتحه): د اطباق ضد دی په لغت کې خلاصوالي یا بیلوالي ته وایي او په علم تجوید کې د ژبې خلاصوالی دی له پاس تالو څخه د حرف د ادا کولو په وخت کې او کوم حروف چې دا صفت لري د حروفو د ادا په وخت کې ژبه له تالو نه جلا وي .

حروف یې ۲۵ دي (من أخذ وجد سعة فزکا حق له شرب غیث).

غير متضاد صفتونه :

غير متضاد صفتونه اوه دي انحراف ،قلقله ،لين ،صفير،تكرير،تفشي او استطالت

١- انحراف : په لغت کې کوږوالي ته وايي او په اصطلاح کې د حرف ميلان دی د ژبې له نوک څخه دا صفت د "ل" او "را" په حروفو کې دی چې د ادا په وخت کې د خپل مخرج څخه کم کوږوالي پيدا کوي .

٢- قلقله : په لغت کې حرکت او خوځښت ته وايي .

د قلقلی د حروفو صفت دا دی چې د سکون په حالت کې د هغې د تلفظ پر مهال په مخرج کې خوځښت رامينځته کيږي د قلقلې حروف پنځه دي چې په (قطب جد) کې جمع شوي دي .

د قلقلي اقسام

قلقله د ادا کولو له مخکې درى قسمه ده :

قلقله کبرى :

کله چې د قلقلې حرف مشدد وي او په آخر د کلمې کې واقع شوى وي هلته لويه قلقله تر سره کيږي لکه دغه قول د الله سبحانه وتعالى : [يَسْأَلُونَكَ عَنِ الأهِلَّةِ قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ] او [قَالُواْ الآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ] .

قلقله وسطى :

کله چې د قلقلې حرف ساکن وي په آخر د کلمې کې واقع وي او وقف وربانديې شوى وي او مشدد نه وي نو متوسطه قلقله ادا کيږي ،لکه دا قول د الله تعالى : [قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ].

قلقله ضغرى :

کله چې د قلقله حرف ساکن وي په مینځ د کلمې کې راغلی وي کوچنۍ قلقله تر سره کیږي لکه دا قول د الله تعالی : [فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ]

۳- **لین :** د لین معنې ده سهولت او نرمي او دا حروف د ادا په وخت له مخرج څخه په نرمی سره ادا کیږي .

حروف یې دوه دی (واو، یا) چې خپله ساکن وي ماقبل یې مفتوح (زور) لرونکی توری وي .

لکه :(خَوف، صَیف، قَریش... او داسی نور)

۴- **صفیر:** د صفیر معنی دا ده چې د دغو حروفو د تلفظ پر مهال د شپیلی د آواز په شان آواز غوږ ته رسیږي له همدې کبله هغه ته صفیریه حروف وایې چې له "ص ز س"حروفو څخه عبارت دي .

۵- **تکریر:** دا صفت یوازی په "ر " کې لیدل کیږي چې د ادا په حالت کې یو ډول لړزه پیدا کیږي ،یعنی د ادا په وخت ژبه رپیږي پداسې ډول چې "را" تکرار تلفظ نشي .

۶- **تفشي :** په لغت کې شیندلو ته وایې دغه صفت د" ش" د حرف دی چې ددې توری د ادا کولو په وخت کې آواز په خوله کې خپریږي .

۷- **استطالت :** په لغت کې اوږدوالي ته وایي او دا صفت لرونکی توری یواځې د "ض" حرف دی چې د ادا په وخت کې د مخرج له شروع تر پایه ټول اضراس غاښونه نیسي .

د ځینومشابه حروفو ترمنځ فرق

د «ذ» او «ز» ترمنځ فرق:

د «ذ» مخرج: کله چې د ژبې نوک د پاسنیو ثنایاغاښونو له څوکې سره ولګیږي د "ذ" توری اداکیږي.

د «ز» مخرج: کله چې د ژبې څوکه دلاندنیو ثنایاغاښونو د بیخ سره ولګیږي د" ز" توری اداکیږي نو ویلای شو چې د «ذ» په ادا کې د ژبې څوکه بیرون خواته راوځي ولې د «ز» په تلفظ کې نه راوځي.

او «ز» حرف د سفیر صفت لري چې مخکې بیان شو د شپیلۍ په شان آواز لري.

د «ث» او «س» ترمنځ فرق:

د «ث» او «س» حروفو تر منځ همداسې فرق دی لکه د «ذ» او «ز» تر مینځ چې موجود ؤ ځکه «س» د «ز» له مخرج څخه ادا کیږي او د صفیر صفت لري پداسې حال کې چې «ث» د «ذ» له مخرج څخه ادا کیږي د همس صفت او رخوت په هغه کې واضح دی.

د «ظ» او «ض» ترمنځ فرق:

د «ظ» مخرج: هرکله چې د ژبې د نوک زیاته برخه د پاسنیو ثنایا غاښونو له څوکې سره ولګیږي د "ظ" حرف اداکیږي.

د «ض» مخرج: کله چې د ژبې یو اړخ د پاسنیو اضراس غاښونو سره ولګول شي د«ض» توری تلفظ کیږي البته له چپې خوا څخه یې ادا کول آسانه دي ،نو ځکه د ظا مخرج له ض نه لرې دی.

او بل دا چې د «ض» حرف د استطالت صفت لري چې بل په هیڅ کوم حرف کې دا صفت نشته.

» هغه حروف چې همیشه ډک یا مفخم تلفظ کیږي اومستعلیه حروف ورته وایی اووه دي(خص , ضغط , قظ)

د «س» او «ص» ترمنځ فرق:

کله چې د ژبې خوکه د لاندنیو ثنایاوو د داخل طرف سره ولګول شي نو د "ز،س،ص" توري ادا کیږي خو دومره توپیر شته چې د"ص" حرف د استعلاء د صفت د لرلو له کبله ډک ادا کیږي او د " ز " او"س" حروف تش یا باریک ادا کیږي.

پنځم فصل

د ساکن نون او تنوین احکام

ساکن نون هغه دی چې حرکت (زور،زیر او پیښ) ونه لري یعنی غږوندی واله "نْ" دی او تنوین دوه زورونه ،دوه زیرونه او دوه پیښونو (ـًـٍـٌ) ته وایي .ساکن نون او تنوین څلور احکام لري چې عبارت دي له: ادغام ،اقلاب ،اخفاء او اظهار.

۱- ادغام

ادغام په لغت کې د یو څیز په بل څیز کې داخلولو ته ویل کیږي .

او دعلم تجوید په اصطلاح کې کله چې د ساکن نون یا تنوین څخه وروسته د "یرملون" (ی،ر،م،ل،و،ن) د تورو څخه کوم یو توری راشي نو هلته ادغام کیږي او دا ډول ادغام دوه ډوله دی:

الف: غنه لرونکی .

ب: بې غنی ادغام.

الف : غنه لرونکی ادغام:

کله چې د ساکن نون یا تنوین څخه وروسته د یمنو (ی،م،ن،و) له تورو څخه کوم توری راشي غنه لرونکی ادغام پکې کیږي .

ب : بې غنی ادغام :

کله چې د ساکن نون یا تنوین څخه وروسته د لر (ل،ر) کوم یو توری راشي بې غني ادغام پکې کیږي .

دغُنه لرونکي ادغام مثالونه :

«ي» : مَنْ يَهْدي _ آيَةً يُعْرِضُوا

«م» : مِنْ مالٍ _ قَرارٍمَكينِ

«و» : مَنْ وُجِدَ _ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ

«ن» : عَنْ نَفْسٍ _ الى شَىءٍ نُكُرٍ

د بې غُني ادغام مثالونه :

«ل» : اِنْ لَبِثْتُمْ _ مَتاعاًلَكُمْ

«ر» : مِنْ رَبِّكُمْ _ مَثَلاً رَجُلاً.

استثناءات :

١- د ادغام لپاره دا شرط دى چې مدغم به په يو كلمه كې او مدغم فيه به په بله كلمه كې وي مګر كه چېرې په يوه كلمه كې وي هلته اظهار مطلق تر سره كيږي او په قرآنكريم كې څلور ځايونه داسې دي لكه :«الدنيا، صنوان، قنوان، بنيان ».

٢- كله چې په ساكن نون او ميم وقف وشي نو اظهار مطلق واجب دى .

٣- ځينې ځايونه د نون ساكن او تنوين له قواعدو څخه مستثنى دي لكه : [يس * وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ] ، [ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ] .

د امام شاطبي په نزد د وصل په حالت د سين نون (يس) كې او همدارنګه دوهم آيت شريف كې حرف نون كې اظهار تر سره كيږي .

په عمومي توګه د ادغام اقسام:

د صرفيانو په اصطلاح كې كه دوه همجنس توري په يوه كلمه كې په پر له پسې توګه راشي په داسې حال كې چې لومړى يې ساكن او دوهم متحرك

وي نو ادغام مينځ ته راځي لومړی توری په دوهم کې مدغم کيږي او دا ډول ادغام په درې ډوله دی :

۱- د جنسينو ادغام :

که دوه توري له يوجنس (يو مخرج) څخه په يوه کلمه کې په پرله پسې توګه راشي چې اول يې ساکن او دوهم يې متحرک وي نو ساکن حرف په متحرک کې مدغم کيږي چې دېته د جنسينو ادغام ويل کيږي لکه : قَدْتَّبَيَّنَ - اِرْكَبْ مَّعَنَا - يَلْهَثْ ذّلِكَ - وَدَّت طَّآئِفَةٌ ... او داسې نور .

په پورته مثالونو کې د (دال ، تاء) ، (باء ، ميم) ، (ثاء ، ذال) او (تاء ، طاء) حروف له يو مخرج څخه دي چې يو په بل کې مدغم شوي او د ادغام نښه يې شد دی .

۲- د مثلينو ادغام :

که دوه يوشان توري په يوه کلمه کې په پرله پسې ډول راشي چې اول يې ساکن او دوهم يې متحرک وي نو ساکن حرف په متحرک کې مدغم کيږي چې ديته د مثلينو ادغام وايي : لکه :

فَمَا رَبِحَت تِّجَارَتُهُمْ - وَقَد دَّخَلُواْ - وَذَا النُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَاضِباً

۳- د متقاربينو ادغام :

که دوه داسې توري په يوه کلمه کښې پرله پسې راشي چې مخرجونه يې سره نژدې وي پداسې ډول چې اول يې ساکن او دوهم يې متحرک وي نو ساکن حرف په متحرک کې مدغم کيږي چې ديته د متقاربينو ادغام ويل کيږي لکه.

ساکن (قاف) په (کاف) کې چې مخرجونه یې سره لنډ دي لکه :
أَلَمْ نَخْلُقكُّم .
ساکن (لام) په (راء) کې : [وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْما]
ساکن (واو) په (نون) کې لکه : [وَلاَ يَجِدْ لَهُ مِن دُونِ اللّهِ وَلِيّاً وَلاَ نَصِيراً]
ساکن (نون) په (راء) کې لکه : [أُوْلَئِكَ عَلَى هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ]
لاندې حالات ورڅخه مستثنى دي ځکه چې دلته سکته ادا کیږي :
[كَلَّا بَلْ ۜ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ] (سوره: المتففين) .
[وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ] (سوره : القيامة)
قاعده : د هغه ادغام چې لومړی توری یې ساکن او دوهم متحرک وي حکم واجب دی .
لکه فاضرب بعصاک الحجر
قاعده : که د متماثلینو په ادغام کې لومړی او دوهم توری دواړه متحرک وي نو هلته ادغام کول جایز دي لکه:« لاتأمنا» چې په اصل کې «لاتأمننا» ؤ د عاصم رحمه الله په نزد جایز ادغام په ټول قرآن کی همدا یو ځای د لاتأمنا په کلمه کې دی .
او که چېرته لومړی توری متحرک او دوهم ساکن وي هلته ادغام کول منع دي لکه یغضضن دا ځکه چې لومړی توری قوی متحرک دی او دوهم توری چې ساکن دی ضعیف دی چې د ادغام تحمل نلري .
د ادغام په وجه د ادغام دوهم توری ځني وخت په مکمل ډول له مینځه ځي او د ځینو آواز پاتې کیږي چه دوه قسمه دی.

كامل ادغام :

هغه ادغام دی چې کله دوه توري چې لومړی ساکن او دوهم متحرک وي مدغم شي تر ادغام وروسته د لومړي توري د تلفظ کولو هیڅ اثر پاتی نه شي لکه:

أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا -مِّن رَّبِّهِمْ

لیدل کیږي چې د (تاء) لفظاً او صفتاً نه تلفظ کیږي

یا لکه:

أُوْلَئِكَ عَلَى هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ

دا ډول ادغام په قرآنکریم کې په مشدد ډول ښودل شوی وي .

ناقص ادغام:

د دوو تورو داسې ادغام چې لومړی ساکن او دوهم متحرک وي تر ادغام وروسته د لومړي توري ذاتاً څه اثر پاتې ولې صفت یې باقي وي ،یا په بل عبارت کله چې اول حرف د یو څو صفاتو سره په دوهم حرف کې مدغم شي دیته ناقص ادغام وایي.

مثال:

وَمَا لَهُم مِّنَ اللّهِ مِن وَاقٍ

مَن يَقُولُ

لیدل کیږي چې نون په (واو) او (یاء) مدغم شوی دی مګر د غنې صفت یې پر ځای پاتې دی .

چې داسې تلفظ کیږي:

مِ ن وَاق

م ن يَقُول

اقلاب

اقلاب لغتاً يو ځيز په بل ځيز بدلولو ته وايي او د علم تجويد په اصطلاح کې کله چې د ساکن نون او يا تنوين څخه وروسته د "ب" توری په کومه کلمه کې راشي نو تنوين يا ساکن نون په واړه ميم بدليږي او غنه پکې ضروري وي .

مثال: مِنْ بَعْدِ - سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ

اظهار

اظهار په لغت کې ځرګندولو ته وايي ،او د علم تجويد په اصطلاح کې د دوه تورو جلا کول دي ،داسې چې د ساکن نون او تنوين څخه وروسته د حلقي حروفو (ء،ه ،ع،ح، غ ،خ) څخه يو توری راشي ،ساکن نون يا تنوين اظهاريږي يعنې ښکاره او له وروستي توري څخه جلا تلفظ کيږي نون په طبعي شکل له ځپل مخرج څخه ادا کيږي،ځکه چې نون د خولې له ابتدا څخه را وځي ،او حلقي حروف په حلق کې ادا کيږي چې فاصله يې يو تر بله ډيره ده .

مثالونه :

ء:	يَنْأَوْنَ	مِنْ اَمْرِهِمْ	كُلٌّ آمَنَ
ه :	مِنْهُمْ	اِنْ هُوَ	فَرِيقاً هَدي
ع :	اَنْعَمْتَ	مَنْ عَمِلَ	سَمِيعٌ عَلِيمٌ

ح :	تَنْجِتُونَ	فَمَنْ حَجَّ	حَكِيمٌ حَمِيدٌ
غ :	فَسَيُنْغِضُونَ	مِنْ غِلٍّ	قَوْلاً غَيْرَ
خ :	اَلْمُنْخَنِقَةُ	مِنْ خَيْرٍ	حَكِيمٌ خَبِيرٌ

اخفاء

اخفاء په لغت کې پټولو ته وايي او د علم تجويد په اصطلاح کې کله چې د اظهار،ادغام او اقلاب له حروفو څخه پرته د هجاء د نورو پنځلسو (ت،ث،ج،د،ذ،ز،س،ش،ص،ض،ط،ظ،ف،ق،ک) تورو څخه يو توری د ساکن نون يا تنوين څخه وروسته راشي نو دغُنې سره اخفاء پکې کيږي

يعنی د ساکن نون يا تنوين د ادا کولو مخرج د اخفاء د حرف مخرج ته ورل کيږي او هلته ادا کيږي .

يا په بل عبارت کله چې د اخفاء توري له ساکن نون او تنوين څخه وروسته راشي نو ساکن نون يا تنوين په متوسط ډول د اظهار او ادغام تر منځ ادا کيږي .

د ساکن نون او تنوين د احکامولنډيز

<table>
<tr><td colspan="4">ادغام
د ساکن توري داخلېدل په متحرک توري کې چې د يو مشدد توري په توګه لوستل کيږي .
دوه قسمه دی : ۱- غنه لرونکی ۲- پرته له غني</td></tr>
<tr><td rowspan="2">حروف</td><td colspan="3">مثالونه</td></tr>
<tr><td>ساکن نون</td><td>تنوين</td><td></td></tr>
</table>

ي	مَنْ يقول	و فرقٌ يجعلون	غنه لرونکی ادغام
ن	مَنْ نعمة	يومئذٍ ناعمة	
م	وانْ مــــن شيء	عذابٌ مقيم	
و	مَنْ ولي	يومئذٍ واهية	
ل	مَنْ لدنا	فسلامٌ لک	بې غنې ادغام
ر	مَنْ ربهم	غفورٌ رحيم	

اقلاب

د ساکن نون او تنوين بدلول په ميم باندې سره له غنې او حرف باء

حروف	مثالونه	
	ساکن نون	تنوين
ب	مَنْ بعد	سَمِيعٌ بَصِيرٌ

نون او تنوين ځکه په ميم بدلیږي چې «م» مخرج د «باء» د مخرج سره مشترک دی او همدارنګه د «م» توری د «نون» سره په غنه کې مشرک مخرک لري .

اظهار

د غنې ښخه پرته د اظهار د تورو او نون حرف ښرګند او

شکاره لوستل		
حروف	مثالونه	
	ساکن نون	تنوين
ء	ينْأون	كلٌ آمن
ه	منْهم	جرفٍ هار
ع	منْ عمل	حقيقٌ على
ح	منْ حاد	عليمٌ حكيم
غ	منْ غل	قولاً غير
خ	المنْخنقة	يومئذٍ خاشعة

اخفاء د ادغام او اظهار تر مينځ حالت دى د تشديد څخه پرته غنه.		
حروف	مثالونه	
	ساکن نون	**تنوين**
ص	ينْصركم	ريحاً صرصراً
ذ	منْذر	سراعاً ذلك
ث	منْ ثمرة	جميعاً ثم
ک	منْ كل	عاداً كفروا
ج	منْ غل	شيئاً جنات

ش	المنْخنقة	عليمٌ شرع
ق	ينْقلبون	سميعٌ قريب
س	منْ سبيل	بشراً سويا
د	انْدادا	قنوانٌ دانية
ط	ينْطقون	صعيداً طيبا
ز	فانْ زللتم	يومئذٍ زرقا
ف	وانْ فاتكم	عمىً فهم
ت	منْتهون	جناتٍ تجري
ض	منْ ضل	مسفرةً ضاحكة
ظ	منْ ظهير	ظلاً ظليلا

د ساكن ميم احكام

ساكن ميم درى احكام لري ادغام ،اخفاء او اظهار

١ -ادغام :

ساكن ميم فقط په ميم کې ادغاميږي .

مْ + م =مّ

کله چې د ساکن میم نه وروسته بل متحرک میم راشي نو میم په میم کې مدغم کيږي او د يوه الف يا دوو حرکتونو په اندازه غنه پکې کيږي . لکه :

(أَمْ مَّنْ) (وَمِنْهُمْ مَّنْ) (كَمْ مِّنْ) (لَهُمْ مَغْفِرَةٌ) .

۲- اخفا :

کله چې له ساکن میم نه وروسته د (ب) حرف راشي له غنی سره اخفا کیږي چې دیته شفوي اخفا هم ویل کیږي یعنی شونډې به دیوه ویښته په اندازه فاصله لري او مکملې به نه سره لګیږي .

احکام تجوید لیکي چې که د میم نه وروسته د (ب) حرف راشي اخفا او اظهار دواړه روا دي ولی اخفاء کول غوره دي .

مثال : (هُمْ بَارِزُونَ) (كَلْبُهُمْ بَاسِطٌ) (إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ).

۳- اظهار:

د ادغام او اخفا حروفو (م،ب) پرته نور شپږویشت حروف که له ساکن میم وروسته راشي اظهار کیږي . یعنی ساکن میم له غنی پرته ښکاره او له خپل مخرج څخه ادا کیږي .

لکه : أَنَّ لَهُمْ جَنَّتٍ - أَمْ حَسِبْتُمْ اَن تدخل – أَلْحَمْدُ للهِ ، لهم فيها

خو د نورو حروفو په پرتله په (و، ف) تورو کې د مخرج د اختلاف په وجه اشد اظهار کیږي لکه : په "و" کې امْوَالِ او په "ف" کی كَيدَهُمْ فی تَضْلِيْلٍ.

د ساکن میم د احکامو لنډيز

<table>
<tr><td colspan="2">ادغام
کله چې د ساکن میم وروسته متحرک میم راشي ادغام صورت نیسي چې د متماثلین ادغام بلل کيږي .</td></tr>
<tr><td>حرف</td><td>مثال</td></tr>
<tr><td>م</td><td>و منهمْ من – کمْ من – أمْ من</td></tr>
<tr><td colspan="2">دې ادغام ته متماثلین ادغام وايي ځکه دواړه توري يو شان د يو مخرخ څخه دي او همدارنګه ادغام ضغير هم بلل کيږي ځکه چې اول يې ساکن او دوهم يې متحرک دی.</td></tr>
<tr><td colspan="2">اخفاء
کله چې د ساکن میم وروسته د باء حرف راشي اخفاء مینځته راځي چې يوازې په دوو کلمو کې مینځته راځي .</td></tr>
<tr><td>حرف</td><td>مثال</td></tr>
<tr><td>ب</td><td>همْ بارزون – کلهمْ باسط</td></tr>
<tr><td colspan="2">اظهار
کله چې د ساکن میم وروسته د «باء او میم» حروفو پرته د هیجا نور حروف راشي هلته اظهار کيږي ، يعنې د غنې پرته ځرګند لوستل کيږي</td></tr>
<tr><td colspan="2">مثالونه</td></tr>
</table>

أمْ أمنتم – يمْترون – أن لهمْ جنات – أمْ خلقوا

مشدد نون او ميم

حروف	مثال		
	په حروفو کې	په افغالو کې	په اسماء کې
ن	انَّ	تظنُّون	منَّا
م	ثمَّ	دمَّرناهم	همَّاز
حکم : د دوو حرکتونو په اندازه غنه کول .			

غُنه : غُنه هغه آواز دی چې له خيشوم (د پوزې له وروستۍ برخې) څخه راوځي او د يوه الف يا دوو حرکتونو په اندازه کش کول کيږي .

يو حرکت دومره وې لکه خلاصه ګوته چې بنده شي يا تړل شوي ګوته چې خلاصه کړل شي .

غنه په ميم مشدد ، ميم مدغم او ميم اخفاء ، نون مشدد ، نون مدغم نون اخفاء او تنوين کې تر سره کيږي

غنه لره پنځه مراتب دي :

١- المشدد (شد لرونکي ميم او نون کې کامله غنه تر سره کيږي) .

٢- المدغم (د ادغام په صورت کې کامله غنه تر سره کيږي) .

٣- المخفي (د اخفاء نون او تنوين او اخفاء شفوي او اقلاب په صورت کې کامله غنه د دوو حرکتونه په اندازه تر سره کيږي) .

۴- الساکن المظهر (کله چې نون ساکن وروسته حلقي حروف وي په نون کې ناقصه غنه تر سره کيږي او د شفوي اظهار په صورت کې په ميم کې ناقصه غنه ادا کيږي).

۵- المتحرک (په نون او ميم متحرک کې ناقصه غنه تر سره کيږي) .

شپږم فصل

د مد احکام

مد په لغت کې کش کولو ته وايي او د تجويد په اصطلاح کې د مد د تورو صوت ته له طبعی اندازې زيات کش کولو ته مد وايي .

د مد توری دری دي (الف ،واو، ياء) يعنی چې کله "الف" ساکن ماقبل حرف يې فتحه يا زور ولري لکه :قَال .او چې کله "واو" ساکن ماقبل يا مخکينی حرف يې ضمه يا پيښ ولري لکه :يقُول

او چې کله "يا" ساکنه ما قبل حرف يې کسره يا زير ولري لکه : قِيْل

هر کله چې له دغو دريو حروفو وروسته همزه يا سکون راشي د مد توري له طبعي اندازې زيات کش کول کيږي .

يعنی د مد سبب دوه څيزونه دی همزه – سکون .

قصر (لنډول) قصر د مد ضد دی چې پدې حالت کې د مد حروف په طبعي ډول کش کول کيږي او زيادت نه پکې کيږي يعنې د يوه الف يا دوو حرکتونو په اندازه کش کول کيږي دا ځکه چې د مد له حروفو وروسته د مد سبب (همزه اويا سکون) نه وي راغلي .

مد عموماً په دوه ډوله دی.

لومړی – اصلي (طبيعي) مد

دوهم- فرعي يا طويل مد

لومړی- اصلي یا طبیعي مد

طبیعي مد هغه مد دی چې له مدي حروفو (الف، واو،یاء) وروسته همزه یا سکون نه وي راغلی چې د قصیر یا اصلی مد په نامه هم یادیږي چې د یو الف یا دوه حرکتونو په اندازه کش کول کیږي .

دوهم- فرعي مد

فرعي مد هغه مد دی چې له مدي حروفو وروسته سبب (همزه او سکون) راغلی وي ،او دغه مد د طویل مد په نامه هم یادیږي.

د اصلي (طبیعي) مد ډولونه :

طبعي یا اصلي مد په پنځه قسمه دی چې په لاندې ډول بیانیږي :

۱- مد بدل:

هغه مد دی چې په هغه کې دوې همزې متصل یو په بل پسې راغلې وي لومړۍ متحرکه او دوهمه یې ساکنه وي، دوهمه ساکنه همزه د مد په حرف یعنی "الف" او یا "ی" بدله شوي وي لکه: (آدَمَ) چې دا په حقیقت کی (اَأْدَمَ) وو چې پدې کې دوهمه همزه د مد په حرف یعنې الف باندې بدله شوې او (آدم) ترینه جوړ شوی، یا لکه: (اِیْمَاناً) چې دا په حقیقت کې (اِأْمَاَناً) وو چې پدې کې هم دوهمه همزه د مد په حرف یعنې "ی" باندې بدله شوې او(ایمانا) ترینه جوړ شوی.

د مد بدل کش کول د دوو حرکتونو په اندازه جایز دي چې ځینې علماء کرام یې د کش کولو اندازه تر دوو حرکتونو زیاته کړې او په مد فرعي کې یې شماري (المیسر المفید في علم التجوید ص ۷۷) .

٢- مد عوض:

کله چې په مفتوح یا زور لرونکي تنوین باندې وقف وشي نو زور لرونکی تنوین په الف باندی عوض کیږي چې په دې صورت کې د دوو حرکتونو په اندازه مد کول واجب دي لکه دغه قول د الله سبحانه وتعالی :[وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا] .

په « أَفْوَاجًا » چې کله وقف وشي « أَفْوَاجَا » لوستل کیږي او د دوو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي .

٣- اصلي حرفي مد:

دا هغه مد دی چې د مقطعاتو په ځینو حروفو کې راغلی وي ، او دوه حرکته مد پکې کیږي لکه (حا، يا، طا، ها ، را) چې دا حروف د (حی طهر) په کلمه کې جمع شوی دي.

۴- مد صله‌ء صغرای یا صله‌ء قصیر:

کله چې د "ها" ضمیر او "ها" اسم اشاره په یوه کلمه کې راغلی وي او له هغه څخه مخکې یا وروسته حرف متحرک وي نو د دوو حرکتونو په اندازه مد پکې ادا کیږي .

چې د پیښ په حالت کې د (واو) په شان لوستل کیږي او د زیر په حالت کې د (ی) په شان لوستل کیږي .

لکه دا قول د الله سبحانه وتعالی : وَامْرَأَتُهُ و حَمَّالَةَ الْحَطَبِ (المسد) .

او فرمايي : فَوَسَطْنَ بِهِ ی جَمْعًا (العاديات) .

٥- مد تمكين:

كله چې دوې "يا" ګانې يا دوه "واو" وونه په يوه كلمه كې راشي په داسې شكل چې اوله "ى" يا اول "واو" ساكن او دوهم متحرک وي نو په دى حالت كې هم دوه حركته مد ادا كيږي چې ديته مد تمكين وايي او درى حالتونه لري :

الف : كله چې ساكن واو وي ماقبل حرف يې پيښ ولري او د ماقبل مخكې حرف زور ولري لكه : ءأمنوا وعملوا الصالحات }

يا كله چې د ساكن ياء څخه مخكې متحركه ياء راشي لكه : { في يومين }.

ب) : كله چې مدي واو د پيښ لرونكي واو وروسته راشى لكه : { يلوون }.

يا د زير لرونكي ياء څخه وروسته مدي ياء راشى لكه : {يحيي ويميت}.

ج) : كله چې د زير لرونكي مشددې ياء وروسته مدي ياء راشي لكه : { حُيِّيْتم ، النبيِّين ، الأميِّين }

په پورته درى واړو صورتونو كې تمكين مد ادا كيږي د دوو حركتونو په اندازه كش كول كيږي .



د فرعي مد ډولونه :

فرعي یا غیر طبعي مد هغه مد ته وایي چې د مد تر حروفو وروسته سبب راغلی وي چې سبب یې همزه یا سکون دی له دوه حرکتونوڅخه زیات بیا تر شپږو حرکتونو پورې کش کول کیږي او فرعي مد په لاندې ډولو ویشل شوی دی :

- هغه مد چې سبب یې همزه وي په دوه ډوله دی:

۱- مد متصل واجب

۲- مد منفصل جایز

- هغه مد چې سبب یې سکون وي ، دا هم په دوه ډوله دی:

۱- اصلي سکون

۲- عارضي سکون

د اصلي سکون له کبله مد په څلور قسمه دی :

مثقل کلمي ، مخفف کلمي ، مثقل حرفي او مخفف حرفي .

د عارضي سکون له کبله مد په دوه ډوله دی :

مد عارض لسکون ، مد لین لازم

فرعي یا غیرطبعي مد په لاندی ډول په تفصیل سره ذکرکیږي.

۱- متصل مد :

کله چې د مد له تورو وروسته همزه راشي او د مد حرف او همزه دواړه په یوه کلمه کې وي ، پدغه صورت کې د مد حرف د شپږو حرکتونو په

اندازه کش کول کیږي ،د حفص په نزد څلور یا پنځو حرکتو په اندازه کش کول کیږي اوحکم یې واجب دی لکه :

[شَآءَ – جَآء – أَلْمَلَآئِكَة] .

وینو چې په «شَآءَ» کې د الف چې د مد حرف دی وروسته همزه راغلي ده .

۲- منفصل مد :

کله چې د مد له حروفو وروسته همزه راشي او د مد حرف او همزه دواړه په یوه کلمه کې نه وي بلکي د مد حرف په یوه کلمه کې او همزه په بله کلمه کې راغلي وي منفصل (جلا) مد بلل کیږي ، چې د څلورو حرکتو نه تر پنځو حرکتونو پورې کش کول کیږي او حکم یې جایز دی لکه:

[مَآ أُنْزِلَ - إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ]

۳- مثقل کلمي مد:

کله چې د مد حرف او سبب یې (سکون) دواړه په یوه کلمه کې راغلي وي او د مد سبب شد لرونکي توري وي یا د مد د حرف وروسته مشدد حرف راغلی وي د کلمي مثقل مد په نامه یادیږي لکه:

[وَلاَ الضَّآلِّينَ - الْحَآقَّةُ] ..

په « الضَّآلِّينَ » کې د الف چې د مد توری وروسته مشدد حرف چې لام دی راغلی دی .

ددې مد حکم لازم دی یعني د شپږو حرکتو پورې کش کول کیږي.

۴- مخفف کلمي مد :

کله چې د مد د حرف وروسته د مد سبب د سکون لازم په توګه په یوه کلمه کې راغلي وي او د مد سبب مشدد نه وي د کلمي مخفف په نوم یادیږي .

سکون لازم دا چې د وقف او وصل دواړو حالاتو کې سکون اصلي وي تغیر نه کوي دا مد د قرآنکریم یوازې په یوه کلمه کې راغلی لکه :[ءالئٰن] .

ددی مد حکم هم لازم دی د شپږو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي.

۵- مثقل حرفی مد :

کله چې د مد حرف او سبب یې(سکون) په یو د مقطعاتو حروفو کې راشي او سبب یې شد لرونکي توري وي د مثقل حرفي مد په نامه یادیږي. لکه :

الم - طسم

د یاء څخه وروسته راغلی نون (السین) په میم مدغم شوی او یا باندې مد کول مثقل (دروند) مد ګرځیدلی دی .

پدې حروفو کې څکه مد وي چې (لام) یا (سین) کې د مد حرف ساکن ماقبل یې له خپله جنسه یعنې "الف" ساکن ماقبل یی زور او"ی" ساکنه ماقبل یې زیر او وروسته یې مشدد حرف راغلی دی چې ددې مد حکم هم لازم دی یعنی (مثقل حرفي لازمي مد هم ورته وایي) او د پنځو څخه ترشپږو حرکتو پورې کش کول کیږي.

۶- مخفف حرفي مد :

کله چې د مد له حرف څخه وروسته په یو د مقطعاتو حروفو کې سبب (سکون) راغلی وي او مشدد نه وي د مخفف حرفي مد په نامه یادیږي.

لکه :

[ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ - ص وَالْقُرْآنِ ذِي الذِّكْرِ- ن والقلم ومايسطرون] .

پدې حروفو کې ځکه مد وي چې (قاف) یا (نون) یا(صاد) کې د مد حرف ساکن ماقبل یې له خپله جنسه یعنې "الف" ساکن ماقبل یې زور او"و" ساکن ماقبل یې پیښ او وروسته یې سکون راغلی دی .

ددې مد حکم هم لازم دی تر شپږو حرکتونو پورې کش کول کیږي.

۷- مد عارض لسکون :

کله چې د مد له حروفوڅخه وروسته سکون راشي او دغه سکون اصلي سکون نه وي بلکه د وقف له کبله یو حرف ساکن شوی وي نو دیته عارضي سکون وایي او مد ته یې عارض لسکون مد وایي، چې دا هم د دوه حرکتونو، څلورو حرکتونو او شپږو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي او ددې مد حکم هم جایز دی یعنی پدی کی طول ، توسط او قصر جواز لري

لکه [رب العالمينْ ، الکافرونْ، ان الله شدیدالعذابْ] .

۸- د لین لازم مد :

لین نرمی ته وایي چې دا صفت په دوو حروفو کې دی کله چې "واو" ساکن وي ماقبل یې زور لرونکی توری وي او یا "ي" ساکنه ماقبل یې زور لرونکی توری وي چې دغه "و" او "ی" ته د لین حروف وایې یعنې کله چې "و" او یا

"ی" ساکن ماقبل یې زور لرونکی توری وي نو پدې حالت کې مد کیږي که ددی مـد سبب(سـکون) اصـلی وي د(لـین لازم) پـه نامـه یـادیږي لکـه: (کهیعص) چې د عـین پـه حـرف کی لـین لازم دی اوحکـم یـې لازم دی یعنی طول یی د پنځوخه ترشپږو حرکتو او توسـط یی تر دونیموحرکتو پورې کش کول کیدای شي ، او که ددی مد سبب(سکون) عارضي یعني د وقـف له کبله وي د لین عـارض لسکون پـه نامه یادیږي لکه : من خَوْفٍ - قـریش -البیت چې ددی مد حکم جـایز دی یعني طول – توسـط او قصـر جواز لري.




مد
فرعي مد
اصلي مد
حرفي طبعي مد
تمكين مد
صله صغرا مد
عوض مد
بدل مد
سبب سكون
سبب همزه
اصلي سكون
عارضي سكون
منفصل جايز
متصل واجب
مدلين لازم
مدعارض لسكون
كلمي
حرفي
مخفف كلمي
مثقل كلمي
مخفف حرفي
مثقل حرفي

اووم فصل

تفخيم او ترقيق

د «را» د حرف احکام :

۱- د "را" توری که چیری زور یا پیښ ولري یا د "را" حرف خپله ساکن مخکې حرف یې زور یا پیښ ولري نو پدې صورت کی تفخیم کیږي یعنی "را" ډکه تلفظ کیږي .

مثالونه : رَبُّكَ – رُزِقُواْ – مَّرْفُوعَةٌ – عُرْضة

۲- که د "را" حرف زیر ولري یا "را" ساکنه او مخکې حرف یې زیر ولري نو پدې صورت کې ترقیق کیږي "را" باریکه تلفظ کیږي .

رِحْلَةَ – فِرْعَوْنَ

۳- کله چې "را" ساکنه او ماقبل حرف یی زیر ولري او وروسته یې مستعلیه حروف په یوه کلمه کې راشي نو پدې حالت کی "را" ډکه تلفظ کیږي یعنې تفخیم پکې کیږي لکه:

[إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ،قِرْطَاسٍ]

او که چیرته "را" په یوه کلمه او حرف مستعلیه په بله کلمه کې راغلی وي پدې حالت کې "را" باریکه تلفظ کیږي یعنې ترقیق پکې کیږي لکه:

فاصبرصبرا جمیلا .

۴- کله چې "را"ساکنه ماقبل یې همزه وصل راغلی وي یا مخکی له "را" نه عارضي کسره راغلی وي پدې حالت کې هم "را" ډکه تلفظ کیږي یعنی تفخیم پکی کیږي لکه:

[أَمِ ارْتَابُوا- ارْجِعِي].

په پورته مثالونو کې مخکې له "را" څخه عارضي کسره یا وصلی همزه راغلی ده.

۵- کله چې "را" ساکنه او ماقبل حرف یې هم ساکن وي نو د هغه ماقبل ماقبل ته ترجیح ورکول کیږي که د ماقبل ماقبل یې زور یا پیښ وي ډکه او که زیر وي باریکه تلفظ کیږي لکه: [وَالْفَجْرِ * وَلَيَالٍ عَشْرٍ].

۶- کله چې "را" ساکنه او ماقبل یې "ی" ساکنه راغلی وي نو پدي حالت کې هم "را" باریکه تلفظ کیږي یعنی ترقیق پکی کیږي لکه: خيْر، سيْر.

د حرف لام احکام :

۱- په لفظ جلاله (الله جل جلاله) کې که د لام نه مخکې حرف زور یا پیښ ولري تفخیم کیږي یعنی"لام" ډک تلفظ کیږي لکه : هُوَ اللَّهُ - نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ

همدارنګه که د"لام" نه مخکې حرف ساکن وي له هغه مخکې حرف زور یا پیښ ولري پدې صورت کې هم د "لام" توری ډک ادا کیږي لکه : عَلَى اللَّهِ - واعْبُدُوا اللَّهَ.

۲- که د "لام" نه مخکې حرف زیر ولري یا د "لام" نه مخکې حرف ساکن وي او د هغه نه مخکې حرف زیر ولري ترقیق کیږي یعني "لام" باریک ادا کیږي لکه : [قُلِ اللَّهُمّ - وَيُنَجِّي اللَّهُ]

مګر لام (ال) بغیر له لفظ جلاله نه په نوروکلماتو کې په دوه ډوله دی :

۱- (شمسي حروف) "ال" شمسي

٢- (قمري حروف) "ال" قمري

شمسي حروف هغه حروف دي چې كله (الف لام) پرى داخل شي نو (لام) نه لوستل كيږي بلكې په وروستي حرف كې مدغم كيږي .

لكه :ألنَّاسُ، أَلطَّآمَّة – الشمس- التواب... اوداسى نور.

د شمسي "ال" د پيژندنې علامه دا ده چې د لام نه وروسته حرف شد لرونكي وي .

قمري حروف هغه حروف دي چې كله (الف لام) پرى داخل شي نو (لام) لوستل كيږي يعني نه مدغميږى لكه : أَلْقَمَرُ، أَلْعَلِيمُ –الخبير- القيوم ... اوداسى نور.

❖ ددې كتاب بيا كتونكي حافظ القرآن ښاغلى قاري صاحب وايي : زمونږ ګران استاد مرحوم قاضي صاحب محمدكريم حيدري په لاندې شعر كې په ډير ښه ډول بيان كړي دي.

دحلق شوندو ټول حرووفونه

د لسان جيم ، يا، قافونه

قمري ګڼه جانانه

نور شمسي دي پر ماګرانه

القمر الشمس ته ګوره

نور قياس كړه زما وروره

لكه پټ ستوري په لمر كې

وي خو ښكاري په قمر كې

القمر کۍ لام ښکاره دی

په الشمس کی پټ پنه دی

او په بل ځای کې یې په لنډ ډول داسې بیان کړي دي.

شین جمع غاښونه شمسي ---- نور واړه قمري

یعنې شین له هغو حروفو سره یوځای چې په غاښونو کي اداکیږ ِ شمسي حروف دي او پاته نور قمري حروف دي چې دواړه (۱۴ – ۱۴) حروف کیږي.

یعنې شمسي حروف دا دی : :(ت – ث – د – ذ - ر- ز–س –ش –ص –ض –ط –ظ –ل- ن).

او پایې نور قمري حروف دي .

د همزه وصل احکام :

تعریف : همزه وصل هغه زیاته شوې همزه ده چې د ساکن حرف د لوستلو لپاره کارول کیږي ، په اول د کلمې کې لوستل کیږي او په مینځ د کلمې کې نه لوستل کیږي .

د قرآنکریم ځینې کلمات داسې وي چې لومړی حرف یې ممکن حرکت (زور،زیر،پیښ) لرونکی وي د دا ډول کلماتو د تلفظ په پیل کولو کې څه مشکل نه وي .

مګر په داسې صورت کې چه د کلمې لومړی حرف ساکن وي نو د هغه د تلفظ شروع غیر ممکنه وي نو باید د هغه د ابتداء لپاره د وصل همزه

وكاروو تر څو وتوانيږو د كلمې لومړى حرف تلفظ كړاى شو په همدې وجه د (و صل همزې) په نوم ياديږي .

يعنى د وصل د همزې په وسيله د كلمې لومړى ساكن حرف تلفظ كيږي .

همزه دوه قسمه ده : همزه وصل (ا) او همزه قطع (أ)

همزه وصل : هغه همزه ده چې كله د كلمې په پيل كې راشي تلفظ كيږي مګر كله چې د كلمې په مينځ كې راشي نه تلفظ كيږي .

د كلمې په پيل كې لكه :العمَّ ، المدرسة

د كلمې په مينځ كې لكه : ما اسْمُكَ

همزه قطع : هغه همزه ده چې په هر حالت كې تلفظ كيږي .

د وصل همزه په دريو كلمو اسم ، فعل او حرف كې واقع كيږي .

د همزه وصل حركات :

۱- حرف :

په قرآنكريم كى هغه حرف چې د وصل همزه اخلي حرف تعريف (الف ،لام) دى چې د وصل په حالت كې زور اخلي .

كله چې د وصل همزه په لام تعريف داخله شي د د ابتدا او پيل په حالت لوستل كيږي او په مينځ كې نه لوستل كيږي لكه دغه قول د الله سبحانه وتعالى : [التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدونَ] (التوبه:۱۱۲) .

وينو چې همزه وصل يوازې په (التَّائِبُونَ) لوستل او په نورو ټولو كلمو كې ساقطيږي او د فتحې (زور) حركت اخلي .

ملاحظه : كله چې همزه استفهام (د سواليه همزه) په الف لام تعريف داخله شي نو همزه په الف بدليږي لکه : (آللّهُ) په لقوله تعالى : [قُلْ آللّهُ أَذِنَ لَكُمْ أَمْ عَلَى اللّهِ تَفْتَرُونَ] (فصلت :۴۴) .

۲- اسم :

د وصل همزه په سماعي او قياسي اسماء داخليږي ، او سماعي اسماء لس دي چې د هغه څخه اووه اسماء په قرآنکريم کې ذکر شوي دي لکه : (ابن، ابنت، امرؤ،امرأة ،اثنان (اثنين)، اثنتان (اثنتين، اثنتا) لکه په لاندې مثالونو کې .

لقوله سبحانه وتعالى :[اِبْنَ مَرْيَمَ] (البقرة: ۸۷) .

[اِبْنَتَ عِمْرَانَ] (التحريم: ۱۲).

[امْرَأَةُ الْعَزِيزِ] (يوسف :۳۰).

[اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْناً] (البقرة:۶۰).

قياسي اسماء :

د خماسي فعل مصدر لکه : اِبتغاء – اِفتراء

د سداسي فعل مصدر لکه : اِستکبار

په اسماء کې د وصل همزه هميشه زير لرونکي وي .

۳- فعل :

د اسم او حرف پرته د قرآنکريم نوري کلمې د فعل دي ،د فعل د کلمې دريم حرف ته ګورو که چيرې د فعل د دريم حرف حرکت زور يا زير لرونکی وي نو د وصل همزه مکسوره (زير لرونکی) وي او که د فعل دريم

حرف مضموم (پيښ لرونکی) وي نـو د وصـل همزه بـه هـم مضمومه وي لکه :

قوله سبحانه وتعالى : [اِهدِنَا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ] (الفاتحة) .

و قوله سبحانه وتعالى : [اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لاَ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ] (التوبة: ٨٠).

و قوله سبحانه وتعالى :[أُدْخُلُواْ الْجَنَّةَ لاَ خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلاَ أَنتُمْ تَحْزَنُونَ].

آتم فصل

د وقف اووصل احکام

د وقف او وصل پيژندل يو له اهمو مباحثو د علم التجويد څخه دي چې د قرآنکريم لوستونکي يې بايد په پوره اهتمام په نظر کې ونيسي .

حضرت على رضى الله عنه د (وَرَتِّلِ الْقُرآنَ تَرْتِيلاً) په تفسير کې ويلي (هو تجويد الحروف، ومعرفة الوقوف) يعنې : ددې مطلب د حروفو تجويد او د وقفونو پيژندل دي .

ابن الأنباري وايي: چه وقف او وصل پيژندل ډير ضروري دي په خاصه توګه د هغه چا لپاره چې د قرآنکريم په معنى نه پوهيږي نو هغه به يې په فواصلو پيژني نو ويلای شو چې (د وقف او وصل پيژندل) د قرآن د تعليم لومړي واجب دی .

د وقف تعريف :

وقف په لغت کې ودريدو او ځنډ کولو ته وايي ، او د تجويد په اصطلاح کې د کلمې په آخر باندې د ساه او آواز بندول او وروسته قرائت ته ادامه ورکول د وقف په نامه ياديږي .

د وقف اقسام :

په عمومي توګه وقف په درى ډوله دى : اضطراري ، اختياري او اختباري .



وقف اضطراري :

وقف اضطراري هغه وقف دی چې د یو غیر اختیاري سبب له مخې مینځته راشي لکه : د تنفس تنګوالی یا ستړیا، ټوخی ، پرنجی او نور .

وقف اختیاري :

په یوه کلمه باندې وقف اختیاري عبارت له هغه وقف څخه دی چې قاري د کوم غدر پرته پخپل اختیار او اراده هغه تر سره کوي .

وقف اختباري :اختباري هغه وقف دی چې زده کوونکی د معلم په غوښتنه د امتحان او معلوملو لپاره وقف کوي .

وقف اختیاري په لاندې ډولونو ویشل شوی دی:



وقف تام :

وقف تام په يو كلمه باندې هغه وقف دی چې معنی پوره شي او د راتلونكي سره هيڅ لفظي او معنوي تعلق ونلري ، لكه د سورتونو په آخر باندي وقف ، د قصې په پای كې وقف ، د مؤمنانو او كافرانو د صفاتو په آخر او يا د جنت او ذوزخ د ذكر په پای كې او يا د نورو داسې موضعاتو په پای كې وقف كول چې د هغه موضوع پای وي .

حكم : وقف كول حسن دي .

مثال : [أُوْلَـئِكَ عَلَى هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ * إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ] (البقرة 5-6) .

وقف كافي :

وقف كافي په يوه داسې موضوع باندې وقف كولو ته وايي چې د راتلونكى موضوع سره معنوي تعلق ولري نه لفظي ، يعنې په معنې كې يو له بله تعلق لري مګر په لفظ كې يو بل سره څه تعلق نلري .

حكم : وقف او وصل دواړه جايز دي .

مثال : وقف كول په (**الْبَيْتِ**) باندې په دغه قول د الله تعالى [فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ * الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ] (قريش 3-4)

ځكه چې ماقبل د مابعد سره په معنى كې تعلق لري مګر په لفظ او اعراب كې پيوستون او تعلق نلري .

وقف حسن :

په یو داسې موضوع او عبارت باندې وقف کولو ته وایي چې معنی یې پوره وي مګر راتلونکي موضوع د معنی پوره کیدو لپاره مخکې موضوع ته اړتیا ولري .

حکم : څرنګه چې معنی یې پوره (حسن مفید) ده ، وقف وربانديې پکار دی او د ادامه په حالت کې یې له راتلونکي موضوع سره اعاده او تکرار پکار نه دی ، مګر دا چې د آیت سره وي او د آیت په سر به مطلق وقف تر سره کیږي که څه هم معنوي او لفظي تعلق ولري ځکه چې د آیت په سر باندې وقف کول سنت دي .

وقف غیر جایز:

وقف غیر جایز داسې وقف دی چې قاري په داسې عبارت باندې وقف وکړي چې معنی یې پوره شوې نه وي او د راتلونکي عبارت سره لفظي او معنوي تعلق ولري .

حکم : جایز نه دی مګر دا چې ضرورت وي لکه : د نفس تنګي ، توخې ، پرنجی او نور . نو کله یې چې اضطراري وقف وکړ په هغه باندې اعاده کول واجب دي .

وقف قبیح :

په کوم داسې عبارت باندې وقف کول چې راتلونکي عبارت سره لفظي او معني تعلق ولري او په معنی کې قبیح غلطي رامینځته کوي وقف قبیح بلل کیږي .

حکم : د ضرورت پرته حرام دی او که اضطراراً وقف وشی اعاده یې واجب ده .

د وقف کولو طریقه :

په آخر د کلمې باندې دریدل یا وقف په څلورو طریقو تر سره کیږي

۱- وقف ابدال :

(بدلول) د وقف په حالت کې د کلمې آخري توری په بل توري بدلیږي

الف) : کله چې آخر دکلمې تاء (ة) وي د وقف په حالت کې په (ه) بدلیږي لکه : **(رَحْمَةً - رَحْمَهْ)**

ب) : هغه کلمات چې په تنوین (دوه زورونه) ختم شوی وي د وقف په حالت کې په مدي الف بدلیږي لکه : **(حِساباً - حِسابا)** او که چیرته په (دوه زیرونو او دوه پیښونو) باندې ختم شوی وي آخري حرف یې ساکن کیږي.

۲- وقف اسکان :

(ساکن کول) د ابدال او مفتوح تنوین نه بغیر په نورو ټولو کلماتو کې د وقف په حالت کی د کلمې د آخري توري څخه حرکت لرې کیږي او ساکن ګرځول کیږي لکه : **یَوْمُ ـــ یَوْمْ**

۳- وقف روم :

په کوم حرف چې وقف تر سره کیږي د هغه حرف دریم حصه ادا کول په ټیټ او خفیف آواز چې تنها قاري ته نږدې کس یې واوري د وقف روم په

نوم يادیږي ، دا طريقه يوازې د مضموم (پيښ لرونکي) او مکسور (زير لرونکي) حرف لپاره هغه که منون وي او که نه جايزه ده .

لکه : ﴿لَفِي خُسْرٍ﴾ (العصر ۲).

۴- وقف اشمام :

د وقف شوي حرف د ساکن کولو وروسته ، شونډې د ضمه (پيښ) په شان را ټولول پرته له دې چې د ضمه اواز واورېدل شي د وقف اشمام په نوم يادیږي .

چي يوازې ليدونکی يې حس کولای شي او وقف اشمام يوازې په مضموم (پيښ لرونکی) حرف تر سره کيږي په زور او زير لرونکو حروفو کې نه تر سره کيږي لکه :

[إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ] .

يادونه :

د وقف روم فائده دا ده چې تر څو اورېدونکی د کلمې د آخري حرف حرکت تشخيص کړای شي .

د وقف اشمام فائده دا ده چې ليدونکی شخص ته د کلمې د آخرې حرکت ښودل دي .

د يادونې وړ ده چې غير ماهر قاريان به د دغو دوو طريقه څخه کمه استفاده کوي او يا به هغه په کامله توګه ترک کوي ځکه د دغو طريقو عملي کول څه مشکل او باريک دی په خاصه توګه د روم طريقه ، د ماهر قاريانو پرته نور په اشتباه کې لويږي .

د وقف نښې :

د هري ژبې ويونکی چه کله خبرې کوي نو چيرته دريږي او چيرته نه دريږي ،کله ډير او کله لږ ايساريږي او په دريدو او نه ودريدو کې د خبرې پوره بيان او په مفهوم کې يې ډير لوی دخل دی .

نو ضروري خبره ده چې ددی عظيم کتاب لوستونکی ددې رموزو يا علائمو پوره خيال وساتي او دغه علايم چې اهل علمو د دريدو او نه دريدو نښي مقررې کړي دي په لاندې ډول دی :

د وقف اووصل علائم

شمیره	علامه	مطلب	تفصيل
۱	○	آيت	چيرته چې خبره پوره شي هلته وړه غوندې دايره وي چې دې دايره ته آيت وايې دا د وقف تام علامه ده پدی ودريدل پکار وي .
۲	م	وقف لازم	په دې ځای کې درېدل لازمي دي ، د نه درېدلو په صورت کې په معنی کې خلل راځي
۳	ط	وقف مطلق	دا د وقف مطلق نښه ده پدې باندې مطلقاً دريدل پکار دي .
۴	ج	وقف جايز	دا د جايز وقف نښه ده دلته دريدل غوره دی او نه دريدل جايز دي .
۵	ز	وقف مجوز	دلته وقف او وصل دواړه جايز دي مګر

			وصل د وقف په نبست غوره او قوي دی .
۶	ص	وقـــــف مرخص	د رخصـت ورکـړ شـوي وقـف نښـه ده چې دلتـه د نفس تنګی پـه وجـه وقـف رخصـت دی یعنې کـه څـوک سټړي شي وقـف جايز دی او د هغه پرته وقف نه کول غوره دي .
۷	ق	قد قيل	دا د (قيـل عليـه الوقـف) خلاصـه دلتـه دريدل پکار نه دي
۸	ک	کـــــذالک (همدارنګه)	کومه علامه چې مخکې تیره شـوي وي دلتـه هم همغه ګڼل پکار دي .
۹	قف	ودريږه	دا علامـه هلتـه پکاريږي چې د لوسـتونکی د پیوستی وینا احتمال وي .
۱۰	لا	وقف نشته	دا علامه کله د آيت د پاسه لیکل شـوی وي او کله د عبارت د ننه وي که د عبارت د ننه وي هلته دريدل بالکل نشته او که د ايت د پاسـه وي پدی کې اختلاف دی ځینی وايې دريدل روا دي ځینی بيا وايې نه دریدل رواه دي خو که ودريږي یا ونه دريږي په مطلب کې کوم خلل نه راځي .
۱۱	قلی	قيـل لا وقـف عليه	ځينې علماء وايي چې دلته وقف نشته .

۱۲	صل	یوصل (پیوسته کول)	دلته وصل او وقف دواړه جایز مګر وصل غوره دی .
۱۳	صِلی	الوصل اولی	دلته وصل غوره دی مګر وقف هم جایز دی .
۱۴	وقفه	د سکتې علامه	دا د اوږدې سکتې علامه ده دلته د سکتې په نسبت ډیر دریدل پکار دي لیکن چه نفس جاري وي .
۱۵	س	سکته	دا د سکتې نښه ده دلته لږ وخت دریدل پکار دي خو تنفس به باقی وي (آواز به بندوي لیکن ساه به نه ماتوي).
۱۶	؞ ؞	معانقه	د معانقې د وقفونو معنی دا ده چې کچیرې په اول باندې ودریدې او وقف دې وکړ نو په دوهم به تیریږي وصل به کوي او که په اول کې دې وصل وکړ په دوهم کې به وقف کوي .

سکت :

تعریف :

سکت په لغت کې (د آواز بندولو) ته وايي او په اصطلاح کې د آواز قطع کول پرته د ساه له اخیستلو څخه (آواز به بندوي لیکن ساه به نه ماتوي).

حکم :

سکت د دوو حرکتونو په اندازه کول واجب دي .

سکت د (س) او یا هم (سکته) په علامه ښودل شوی وي .

په قرآنکریم څلور ځایه سکته تر سره کیږي .

١- سوره الکهف آیت :١ .

٢- سوره یس آیت : ٥٢ .

٣- سوره قیامة آیت : ٢٧ .

٤- سوره المطففین آیت : ١٤ .

قطع :

تعریف :

د قرآنکریم د قرآئت پای ته رسول او په بل کار مشغولېدل د تجوید په اصطلاح کې قطع بلل کیږي .

قطع یوازې په آخر د آیت کې تر سره کیږي ، په مینځ د آیت کې صحیح نه ده او د کلمې په مینځ کې قطع کول جواز نلري .

نون قطني :

د وصل په حالت کې کچیرې د تنوین نه وروسته د وصل همزه راشي نو تنوین په نون مکسوره سره بدلیږي چې همدې نون ته نون قطني وايي چې په قرآنکریم د کوچني (ن) په شکل لیکل شوی وي .

مثال :

تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ن ، الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ (الملک : ۲،۱) .

یادونه:په آخر کې به د تلاوت طریقې هم زده کړو چې په څوقسمه دي خو له دې نه مخکې باید ووایو چې (متقدمین اومتآخرین علماء پدې متفق دي چې د تجوید زده کړه په عملي او تطبیقي ډول او د قرآنکریم زده کړه په تجوید سره په هر مؤمن مسلمان فرض عین ده او د تجوید زده کړه په نظري شکل سره فرض کفایی ده.

د تلاوت څلور طریقې

۱- **ترتیل:** عبارت د هغه تلاوت څخه دی چې په ډیر اطمینان سره وشي د تجوید احکام پکې مراعات کړ شي او هرحرف په خپل مخرج کی سره له صفاتو ادا شي او د هغه په معنی کی تدبر او فکر وشي .

۲- **حدر:** عبارت د هغه تلاوت څخه دی چې سرعت یې زیاد مګر ټول حروف په خپلو مخرجونو کې ادا شي او د تجوید ټول احکام مراعات شي چې دغه ډول تلاوت په تراویحو کې کیږي داسې نه لکه نن سبا چې زمونږ په ټولنه کې د روژې ځینې مروج ختمونه کیږي چې نه یې اخفا معلومیږي او نه

يی اظهار، نه يی وقف معلوميږي او نه يې وصل او نه څوک وربانديې پوهيږي او بيا وايې چې ما حدر وويل داسې کول په کار نه دي .

۳- **تدوير:** هغه تلاوت ته وايې چې نه ډير تيز او نه ډير ورو وي بلکه د ترتيل اوحدر په مابين کې وي چې دا ډول تلاوت په روزانه ګردان يا تلاوت کې کيږي.

۴- **تحقيق:** هغه تلاوت ته وايې چې ډير په کراره سره وشي يعنې د هرحرف حق د تجويد د احکامو مطابق اداشي او د هر نوع زيادت اونقصان څخه پاک وي .

مهم فصل

عملي مثال

د الحمدلله تجويد

د سورت فاتحې (الحمدلله) تجويد ځکه مهم دی چې په هر لمانځه کې لوستل کیږي.

الْحَمْدُ للّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

د [الْحَمْدُ] په سر کې همزه، همزه وصل ده چې د لام سره جنګیږي ، په [رَبِّ] کې (راء) توری ډکه لوستل کیږي او (باء) مشدد لوستل کیږي.

د (دال) حرف پیښ لري چې باید دومره اوږد نشي چې د (واو) پشان تلفظ شي چې [الحمدو] وویل شي .

د [ح،ع] حروف د ستوني له وسط څخه راوځي.

په [الْعَالَمِينَ] کې د الف په توري کې طبعي مد دی ځکه الف د مد حرف دی مخکې حرف یې (ع) دی زور لري چې د دوو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي .

په [الْعَالَمِين] کې د وقف په حالت کې د سکون له کبله عارض مد دی چې د یاء حرف دوه یا څلور یا شپږ حرکته کش کول کیږي ځکه چې د مد د حرف (یاء) وروسته سکون (نْ) راغلی دی چې قصر او مد دواړه پکې جایز دي .

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

د [الرَّ] په سر کې همزه وصل ده چې د (راء) سره جنګیږي او (راء) مشدده لوستل کیږي ، لام نه لوستل کیږي ځکه د لام وروسته شمسی حرف راغلی

دی ، هر ځای مو چې د لام وروسته مشدد حرف لیدلو هغه شمسي حرف دی چې مشدد لوستل کیږي او لام نه لوستل کیږي.

شد د دوو حروفو د تکرار نښه ده چې لومړی ساکن او دوهم متحرک وي لومړی حرف په دوهم کې مدغم (داخل) شوی وي نو مشدد حرف به د ادا کولو په وخت کې داسې لوستل کیږي لکه دوه حروف.

په [الرَّحْمٰنِ] کې (میم) په الف ولاړ دی .

په [الرَّحِیم] کې د وقف په حالت کې د سکون له کبله عارض مد دی کچېږي وقف تر سره شي ، چې دوه یا څلور یا شپږ حرکته کش کول کیږي ځکه چې د مد حرف (یاء) وروسته سکون (مْ) راغلی دی.

په [الرَّ] کې حرف (راء) مشدد لوستل کیږي ځکه شمسي حرف دی او لام نه لوستل کیږي ،همدارنګه په حرف (راء) کې تفخیم دی (ډکه لوستل کیږي).

مٰلِكِ یَوْمِ الدِّینِ

په [مٰلِكِ] کې د میم حرف د دوو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي ځکه چې طبعي مد دی ، په [الدِّینِ] کې لام نه تلفظ کیږي د (دال) حرف شمسي دی مشدد دی داسې لوستل کیږي [ادَّینِ]

همدارنګه د (کاف) حرف زیر لري چې باید ساکن ونه لوستل شي او زیر دومره اوږ نشي چې (یاء) تري تلفظ شي .

په [الدِّين] کې د وقف په حالت کې د سکون له کبله عارض مد دی چې دوه یا څلور یا شپږ حرکته کش کول کیږي ځکه چې د مد حرف (یاء) وروسته سکون (نْ) راغلی دی.

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ

په [إِيَّاكَ] کې (یاء) مشدد لوستل کیږي.

په [نَسْتَعِين] کې د وقف په حالت کې د سکون له کبله عارض مد دی چې دوه یا څلور یا شپږ حرکته کش کول کیږي ځکه چې د مد حرف (یاء) وروسته سکون (نْ) راغلی دی.

اهدِنَا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ

د (هاء) حرف د ستوني له اخري برخې څخه را وځي مګر د (حاء) حرف د ستوني له وسط څخه راځي ، (هاء) به د (حاء) په څیر نه ادا کیږي.

د (صاد ، طاء) په حروف کې د استلاء صفت دی چې لوړ ، اوچت او ډک ادا کیږي یعنی د ادا کولو په وخت کې د ژبې بیخ پورته تالو ته لوړیږي د لوړیدو له کبله دا توري ډک تلفظ کیږي ، د استعلاء صفت لرونکي حروف دا دي (خُصَّ ضَغطٍ قِظ) .

په [الصِّرَاطَ] کې لام نه لوستل کیږي (صاد) چې شمسي حرف دی مشدد لوستل کیږي.

د (قاف) حرف هرکله چې د ژبی پای له نرم تالو سره ولګیږي د "ق" توری ادا کیږي.

د (كاف) مخرج د لوی (قاف) مخرج سره نږدې لړ د خولې طرف دی ، په (قاف) کې د استعلاء صفت دی چې اوچت تلفظ کيږي مګر په (کاف) کې د استفال صفت دی چې ټيټ لوستل کيږي.

په [المُستَقِيم] کې هم د وقف په صورت د سکون له کبله عارض مد دی.

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ

په (صاء ،طاء) حروفو کې د استعلاء صفت دی ډک تلفظ کيږي .

[الَّذِينَ] کې د لام حرف مشدد لوستل کيږي.

په [أَنعَمتَ] د (نْ) او (مْ) حروف ښکاره لوستل کيږي ځکه چې ادغام او اخفاء پکې نشته ، بلکي د ساکن نون اظهار او د ساکن ميم اظهار شفوي دی .

غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ

د (غ) حرف د ستونې له اولې برخې څخه راوځي ، اوچت او ډک لوستل کيږي.

د (ضاء) حرف :کله چې د ژبې اړخ د ښي طرف يا چپ طرف د پاسنيو اضراس (د ژامې) غاښونو سره ولګول شي د ضاد حرف ادا کيږي او د ضاد په حرف کې د استعلاء صفت دی لوړ او ډک تلفظ کيږي.

په [عَلَيهِمْ] کې ساکن ميم کې اظهار تر سره کيږي څرګند او ښکار لوستل کيږي .

په [وَلاَ الضَّالِّينَ] د ضاد د تشدد په وجه (الف ،لام) دواړه نه ادا کيږي او ضاد مشدد لوستل کيږي.

په [الضَّالِّينَ] کې د الف حرف د شپږو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي ځکه چې مثقل حرفي لازم مد دی د حرف مد (الف) وروسته سکون په مشدد ډول چې د (لام) حرف دی راغلی دی.

په [لِّين] کې هم د وقف له کبله عارض مد دی چې د یاء حرف د دوو ، ځلورو یا شپږو حرکتونو په اندازه کش کول کیږي.

د قرآنکریم په تلاوت کې ځینې خپرې غلطی

سورة الفاتحة:

۱- ځینې خلک د الله تعالی په دغه قول « مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ » کې د «مالكِ» په کلمه کې د (کاف) حرف ساکن تلفظ کوي حال دا چې زیر لري .

۲- ځینې خلک د الله تعالی په دغه قول « إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ » کې د «نَعْبُدُ» په کلمه کې د (دال) حرف ساکن تلفظ کوي حال دا چې د (دال) حرف پیښ لري .

سورة البقرة:

۳- ځینې خلک د الله تعالی په دغه قول [فَانفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْناً] (البقره:۶۰) آیت کې د « عَشْرَةَ » په کلمه کې د (شین) حرف چې ساکن دی په زور سره یې تلفظ کوي چې داسې ویل غلط دي .

۴- ځینې خلک د الله تعالی په دغه قول [وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ] (البقره:۶۰) آیت کې د « تَعْثَوْاْ » په کلمه کې د (ثاء) په پیښ سره تلفظ کوي (تعثُوا) حال دا چې زور لري . پیښ سره یې تلفظ کوي چې داسې ویل غلط دي .

سورة النساء:

٥- ځيني خلک د الله تعالى په دغه قول [هَاأَنتُمْ هَـؤُلاء جَادَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَمَن يُجَادِلُ اللّهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ] (النسأء:١٠٩) آيت کې د « يُجَادِلُ » په کلمه کې د (لام) حرف ساکن تلفظ کوي حال دا چې د (لام) حرف پيښ لري .

سورة المائدة:

٦- ځيني خلک د الله تعالى په دغه قول [وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلاَّ مَا ذَكَّيْتُمْ] (النسأء:١٠٩) آيت کې د « السَّبُعُ » په کلمه کې د (باء) حرف چې مشدد زور لرونکی دی په پيښ سره يې تلفظ کوي (السُّبُعُ) چې داسې ويل غلط دي .

سورة الأنعام:

٧- ځيني خلک د الله تعالى په دغه قول [وَجَعَلُواْ لِلّهِ شُرَكَاء الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ] (الأنعام:١٠٠) آيت کې د « الْجِنَّ » په کلمه کې د (نون) حرف په پيښ سره تلفظ کوي (الْجِنُّ) حال دا چې د (نون) حرف زور لري .

٨- ځيني خلک د الله تعالى په دغه قول [وَمِنَ الأَنْعَامِ حَمُولَةً وَفَرْشاً] (الأنعام:١٤٢) آيت کې د « حَمُولَةً » په کلمه کې د (حاء) حرف په پيښ سره تلفظ کوي حال دا چې زور لري .

٩- ځيني خلک د الله تعالى په دغه قول [ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ مِّنَ الضَّأْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ] (الأنعام:١٤٣) آيت کې د « الْمَعْزِ » په کلمه کې د (عين) حرف په زير سره تلفظ کوي حال دا چې (عين) ساکن دی .

١٠- ځيني خلک د الله تعالى په دغه قول [قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِيناً قِيَماً مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفاً وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ] (الأنعام:١٦١) آيت کې د « قِيَماً » په کلمه کې د (قاف) حرف چې زير لري او د (ياء) حرف زور لري او مشدد نه دی ، چې مشدد لوستل يې غلط دي .

سورة الأعراف:

١١- ځيني خلک د الله تعالى په دغه قول [قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْؤُوماً مَّدْحُوراً] (الأعراف:١٨) آيت کې د « مَذْؤُوماً » په کلمه « مَذْمُومًا » يعني په ميم سره يې تلفظ کوي او د « مذموما » کلمه د سوره اسراء په (١٨او ٢٢) ايت ذکر شوى ده .

١٢- د الله تعالى په دغه قول [تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُوراً وَتَنْحِتُونَ الْجِبَالَ بُيُوتاً] (الأعراف:٧٤) آيت کې ځيني خلک د« الْجِبَالَ » نه مخکې (من) زياتوي (من الْجبلَ) يې تلفظ کوي ، حال دا چې دا کلمات په سوره الحجر او سوره نحل کې ذکر شوي دي .

١٣- ځيني خلک د الله تعالى په دغه قول [فَلَمَّا أَثْقَلَت دَّعَوَا اللّهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ آتَيْتَنَا صَالِحاً لَّنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ] (الأعراف:١٨٩) آيت کې د « دَّعَوَا » په کلمه کې د (دال، عين) حروفو ته پيش ورکوي حال دا چې دواړه زور لري .

په رسم المصحف کې ځيني خپرې غلطى :

١- کوم ځاى کې چې د (واو) حرف د پاسه (کوچنى الف) ليکل شوى وي د الف مد معنى لري لکه :

﴿ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرْكَعُوا۟ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾

چې داسې لوستل کيږي : وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ

٢- کوم ځای کې چې د (واو) د حرف وروسته د پاسه کوچنی الف ليکل شوی وي نو د واو مد معنی لري يا د واو د وديدو معنی لري لکه :

﴿أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞ﴾

چې داسې لوستل کيږي : أُولَـئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ (القرة : ١٥٧) .

٣- کچيرې د حرف (واو) سره بل کوچنی واو ليکل شوی وي نو واو په مد دلادل کوي لکه : ﴿يَلۡوُۥنَ﴾

چې داسې لوستل کيږي : وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُم بِالْكِتَابِ (ال عمران :٧٨) .

٤- همدارنګه (تلوا) داسې لوستل کيږي : تَلْوُواْ.

وَإِن تَلْوُواْ أَوْ تُعْرِضُواْ فَإِنَّ اللّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا (السناء :١٣٥) .

٥- همدارنګه

﴿إِنَّ وَلِـِّۧيَ ٱللَّهُ﴾ ٠ اعراف :١٩٦) : داسې (إِنَّ وَلِيِّيَ الله) ويل کيږي .

﴿لَأَامَنَ﴾ (يونس ٩٩) : داسې (لآمَنَ) لوستل کيږی .

﴿وَجِاْيٓءَ﴾ (الزمر ٦٩) داسې (وَجِيءَ) لوستل کيږي .

پورته څو مثالونو بيان شول ، مطلب دا چې د حروفو حرکاتو ته بايد پوره توجه وشي .

لسم فصل

د قرآنکريم قرآءات

تعريف :

القراءات جمع قراءة ده چې له مصدر د قرأ، يقرأ، قرانا څخه دی په معنی د لوستلو يا جمع کولو.

په اصطلاح کې علم قراءات هغه علم دی چې د قرآنکريم د الفاظو د ادا کولو څخه بحث کوي.

د جناب نبی اکرم صلی الله عليه وسلم څخه اووه قسمه او په ځينو رواياتو کې لس قسمه قرآءات ثابت شوی دي، د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

«أَقْرَأَنِي جِبْرِيلُ عَلَى حَرْفٍ فَلَمْ أَزَلْ أَسْتَزِيدُهُ حَتَّى انْتَهَى إِلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ» (بخاری:۳۲۱۹).

ژباړه: جبريل (اول) ما ته يو قسم قرائت را وښود، ما له هغه څخه وغوښتل چې ما ته نور قرآءات هم را وښيي، تر دې چې اوه قرائت ته ورسيدل.

د [سبعة احرف] په منعی کې د علماؤ اقوال :

امام سيوطي په علوم القرآن کې ويلي دي چې په دې باره کې د علماؤ څلويښت اقوال دي چې بيا يې ځينې مشهور اقوال په لاندې ډول بيان کړي دي :

١- خپله د حرف معنی څرګندده نه ده.

٢- ددې څخه په حقيقت کې اووه عدد مراد نه دی بلکي ددې څخه مراد آساني او توانايي ده.

٣- ددې څخه مراد اووه قراءات دي.

٤- ددې څخه مراد اووه لهجې دي چې معنی يې متفقه مګر په نحوي او لفظي ډول فرق لري لکه: أقبل، وتعالَ، وهلمّ، وعجّل، وأسرِعْ، و عن أُبَيِّ

٥- ددې څخه مراد د تلاوت پر مهال د نطق کيفيت دی لکه: ادغام، اظهار، تفخيم او ترقيق، اشباع، مد او قصر، تشديد او تخفيف او تليين او تحقيق.

٦- او ددې څخه د عربي اوه ژبې مراد دي کوم چې د عربي فصح ژبې دي. (مختصر اتقان في العلوم القرآن ص ٩٣).

علوم القرآن الاكاديمية الاسلامية ليكي :

قول جمهور أهل الفقه والحديث: المراد بالأحرف السبعة، سبع لغات من لغات العرب تختلف في اللفظ وتتفق في المعنى، هو ما يسميه العلماء بالمترادف. المترادف، يعني اللفظة تختلف ولكن المعنى واحد.

ژباړه: د اهل فقه او حديث جمهور قول دا دی چې: د حرف السبعة څخه مراد د د عربو د ژبو څخه اووه ژبې يا اووه لهجې دي چې معنی يې يو شان مګر په لفظ کې فرق لري کوم چې هغه ته علماء مترادف وايي، مترادف داسې چې: معنی يې يوه مګر الفاظ يې مختلف وي.

د قرآئت د اختلاف حکمت :

۱- د امت د پاره تسهیل، آساني او تخفیف.

۲- د قرآنکریم او اسلامي امت عزت او شرف چې بل هیڅ آسماني کتاب په ځو قراءاتو نه دی نازل شوی.

۳- د قراءات په تفاوت کې تحقیق او څېړنه او په دې باندې د اجر حاصلېدل.

۴- د قرآنکریم لوړ اعجاز.

۵- د الله سبحانه وتعالی د کلام د اسرارو اظهار.

(مختصر أتقان في العلوم القرآن ص ۱۰۷).

د صحابه کرامو مشهور قاریان :

عثمان بن عفان، علی بن ابی طالب، ابی بن کعب، زید بن ثابت، عبدالله بن مسعود، ابو درداء او ابو موسی الأشعری.

د تابعینو مشهور قاریان عبارت وو له: په مکه مکرمه کې عطا، مجاهد، طاووس، عکرمه، ابن ابی ملیکه، عبید بن عمیر او نور.

په مدینه کې سعید بن مسیب، عروه، سلیمان بن یسار، عطاء بن یسار، زید بن اسلم، مسلم بن جندب، عمر بن عبدالعزیز، ابن شهاب الزهری، عبدالرحمن بن هرمز، معاذ او نور.

په بصره کې ابوعالیه، ابو رجاء، نصر بن عاصم، یحیی بن یعمر او حسن.

او په کوفه کې ابن سرین، قتاده، جابر بن زید او نور.

د علم قرائت اووه مشهور امامان :

د تابعینو د دور وروسته د علم قرائت اوه مشهور ائمه کرام په لاندې ډول دي :

نافع المدني، عبد الله ابن كثير المكي، أبو عمرو البصري، عبد الله بن عامر، عاصم الكوفي، حمزة الكوفي او الكسائي الكوفي.

۱- **نافع المدني:** نوم یې نافع د عبدالرحمن بن ابی نعیم زوی اصلاً د اطفهان چې په (۷۰- ۱۲۰) کلونو کې یې ژوند کړی دی، د رنګه تور، ښکلي مخ او نیک اخلاقه سړی ؤ چې د استاذانو شمیر یې اویا تنو ته رسیږي، په علم قرآئت کې د مدنې منورې د خلکو امام او پشوا وو. د ده څخه د قرآئت روایت ابو موسی، عیسی بن مینا الزرقي مولی بنی زهره، عثمان بن سعید القبطي مصري روایت کړی دی.

۲- **ابن کثیر**: نوم یې عبدالله د کثیر زوی اصلاً د فارس چې په (۴۵-۱۲۰) کلونو کې یې ژوند کړی دی، په علم قرآئت کې د مکې د خلکو امام وو.

علم قرآئت یې له: عبدالله بن زبیر، ابی ایوب انصاري، او انس بن مالک رضی الله عنهم څخه زده کړی دی، او د ده څخه د علم قرآئت روایت: احمد بن محمد بن عبدالله، ابو الحسن البزي، محمد بن عبدالرحمن المخزومي، ابو عمر المکي کړی دی.

۳- **أبو عمرو البصري**: نوم یې ابو عمرو زیّان چې زوی د علا مازنی دی ،عربي اصله ؤ چې په (۶۸-۱۵۴) کلونو کې یې ژوند کړی دی، په مکه، مدینه، بصره او کوفه یې قرآئت زده کړی دی.

علم قرآئت يې لـه: ابـو جعفـر يزيـد بـن قعقـاع، يزيـد بـن رومـان، شـيبة بـن نصـاح، عبـدالله بـن كثير، مجاهـد بـن جبر، حميـد بـن قـيس اعـرج مكي ،عبدالله بن ابى اسحاق حضرمي، عاصم بن ابى النجود كوفى، ابوالعاليه رفيـع بـن مهـران ريـاحى بصـري څخـه زده كـړى دى، او د ده څخـه د علـم قرآئت روايـت: شـجاع بـن ابـى بصـير، عبـاس بـن فضـل، يحيى بـن مبـارك يزيدى كړى دى.

۴- **عبد الله بن عـامر**: نـوم يې عبـدالله زوى د عـامر بن يزيد اصلي وطن يې دمشـق ؤ چې پـه (۸-۱۱۸) كلونـو كې يـې ژونـد كـړى دى د وليـد بـن عبدالملک د خلافت په وخت كې د دمشق والي او قاضي ؤ.

علم قرائت يې له: اهل شام قاري صحابي ابى درداء او عثمان رضى الله عنه د شاګرد مغيرة بن ابى شهاب مخزومي څخه زده كړى دى، د ده څخه هشام بن عمار، ابو وليد السلمي الدمشقي، ابو عمرو، عبدالله بن احمد الفهري الدمشقي روايت كړى دى.

۵- **عـاصـم الكـوفي**: نـوم يې عـاصـم زوى د ابـى النجـود اسـدي چې پـه (...-۱۲۷) كلونو كې يې ژوند كړى دى، په قرآئت كې د كوفې د خلكو امام ؤ.

علـم قرائـت يې لـه: ابـو عبـدالرحمن سـلمي چې شـاګرد د على بـن ابى طالب رضى الله عنه دى، زرّين حبيش د عبدالله بن مسعود شاګرد وو زده كړى دى.

د ده څخه روايت: شعبه، حفص بن سليمان، ابو عمر الاسدي الكوفي كړى دى.

۶- **حمزة الكوفي**: نوم يې حمزه زوی حبيب بن عمار بن اسماعيل ؤ چې په (۸۰-۱۵۶) کلونو کې يې ژوند کړی دی، په قرآئت کې د عاصم وروسته د خلکو امام ؤ.

له جعفر بن محمد الصادق څخه يې علم قرائت حاصل کړی دی او د ده څخه خلف بن هشام، ابو عيسى بن خالد روايت نقل کړی دی.

۷- **الكسائي الكوفي**: نوم يې علي زوی د حمزه ؤ چې په (۱۱۹-۱۸۹) کلونو کې يې ژوند کړی دی، په قرآئت کې د حمزه الكوفي وروسته د خلکو امام ؤ او په ده باندې د قرائت امامت ختم شوی دی.

علم قرائت يې له: حمزه، ابان بن تغلب، عيسى بن عمر، ابن ابى ليلى څخه حاصل کړی دی او د ده څخه، ابو حارث (الليث بن خالد البغدادي)، حفص بن عمر، ابو عمر الازدي البغدادي النحوي د قرائت روايت نقل کړی دی.

(مختصر اتقان في العلوم القرآن ص ۱۰۳).

د قرآنکريم تعليم او حفظ :

د قرآنکريم حفظ او يادول په امت باندې فرض کفايي دي، کچېرې د هغه د حفظ لپاره يو ډله را ولاړه شي د نورو غاړه وربانديې خلاصيږي او که ټول دا کار ترک کړي د ټولو غاړه بنديږي.

او د قرآنکريم دومره زده کړه او يادول چې لمونځ او عباداتو کې هغه ته ضرورت دی فرض عين او د هغه څخه علاوه د قرآنکريم زده کړه فرض کفايي ده او ډير غوره عمل دی، په صحيح روايت کې راغلي :« خيركم من

تعلم القرآن و علمه » (د تاسې نه غوره او ښه سړی هغه دی چې قرآن زده کړي او نور ته یې وښیي).

او هر چې تجوید د قرآن دی ډیر مهم دی، د ابن مسعود رضی الله نه روایت دی چې هغه ویلي: «جودوا القرآن » (لولئ په ښه شان قرآن)، او هغه دا چې د هر حرف حق ادا شي او حرف د خپل مخرج څخه ادا شي، او په غوره شان تلفظ شي داسې چې په هغه کې اسراف، ظلم او افراط نه وي.

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دې مطلب ته داسې اشاره کوي: « من أحب أن یقرأ القرآن غضاً کما أنزل فلیقرأه علی قراءة ابن أم عبد » یعنې ابن مسعود.

ژباړه: د چا چې دا خوښیږي چې قرآن داسې ولولې لکه څنګه چې نازل شوی دی پس هغه یې دې د ابن معسود رضی الله عنه په شان ولولي .

الله تعالی ابن مسعود رضی الله عنه ته په تجوید کې اوچت مهارت ورکړی وو.

د قرآنکریم داسې ویل جایز نه دي چې چیرې مد نه وي هلته مد ورکوي او چیرې چې مد وي هلته قصر کوي او یا په مد کې زیاتوالی او کموالی کوي کوم چې د هغه حق دی.

مستحب دی چې قرآنکریم په ښه صوت وویل شي خو په شرط ددې چې د حرف حق ادا شي (حرف د مخرج څخه ادا شي او د حروفو حرکات

تغیر نشي)، د مد او قصر حق ادا شي، د نون ساکن او تنوین حقوق ادا شي او همدارنګه د تجوید نور احکام په نظر کې ونیول شي.

د قرآنکریم د زدکړې درى لارې :

۱- دا چې قرآنکریم د اجرت پرته د الله تعالى د رضا لپاره خلکو ته ور زده کوي دا عمل لوى اجر لري او دا د پیغمبرانو علیهم السلام عمل دى.

۲- دا چې قرآنکریم د اجرت په بدل کې خلکو ته ور زده کوي، د متأخرینو په نزد جایز دى.

۳- دا چې د کوم شرط پرته خلکو ته د قرآنکریم زده کړه کوي کچېرې څوک هغه ته مخکې څه هدیه او سوغات ورکړي په اتفاق جایز دى ځکه چې رسول الله صلى الله علیه وسلم معلم الناس وو خلکو به هغه ته سوغات ورکولو او ده به قبلول.

(مختصر اتقان في العلوم القرآن ص ۱۱۲).

د قرآنکریم د حفظ د پاره څو قاعدې:

لومړى قاعده، اخلاص د کامیابى او فتحې سر دى: په هر عمل کې چې اخلاص نه وي پر الله تعالى توکل نه وي په هغه عمل کې که هر څومره کوښښ هم وشي بیا به هم ناقص وي او د الله تعالى په نزد به د قبول وړ نه وي ځکه د قرآنکریم لوستل، زده کول او حفظ عبادت دى او د هرعبادت کولو څخه مقصد د الله تعالى رضا ده نو کله چې په کوم عبادت کې اخلاص نه وي هغه مردود دى.

دوهمه قاعده : د الله تعالى د پاره تقوى: هر کس چې تقوى اختیار کړي

(ټول ګناهونه ترک کړي او د اسلامي شريعت د اوامرو ساتنه وکړي) د هغه د پاره الله تعالی د دنيا او آخرت کارونه او مشکلات آسانه کوي.

لقوله سبحانه وتعالى :[وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا، وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ] (الطلاق ٢-٣).

ژباړه: او څوک چې د الله څخه وويريږي (الله) ور ته (د ستونزو څخه) د وتلو لار جوړوي، او هغه ته د داسې لارې نه رزق ورکوي چې (په خپله) ګمان نه کوي، او څوک چې پر الله پاک توکل وکړي ده د پاره همدا (الله) کافي دی.

دريم قاعده :په وړوکتوب کې حفظ : په کوچنيتوب او کم سن کې حفظ داسې دی لکه په ډبره کې نقش.

څلورمه قاعده: د حفظ د پاره د خاص وخت ټاکل:د حفظ د پاره داسې وخت ټاکل چې ګېډه خالي وي ځکه کله چې ګيډه له خوراک څخه ډک شي بدن د هغه پر هضمولو کار کوي او ذهن مشغوليږي. نو د حفظ د پاره غوره وخت سهار او مازديګر دی.

پنځمه قاعده: د حفظ د پاره مناسب ځای ټاکل : داسې ځای چې آرام وي سترګې، غوږونه او ژبه ټول حفظ ته متوجه وي.همدارنګه داسې ځای چې اندامونه له حرامو څخه وساتل شي لکه: نا محرمو ته نظر نه کول، د غيبت او بهتان نه کول او داسې نور.

شپږم قاعده، په ښه صوت او تجويد سره لوستل :قرآنکريم په ښه صوت او تجويد سره لوستل په کار دي داسې نه لکه د يو عادي کتاب په شان

لوستل بلکي په داسې صوت سره لوستل چې تجویدي قواعد واورېدل شي.

اومه قاعده :قرآنکریم کې به د یو مصحف څخه حفظ کیږي نه څو قسمه مصحفونو څخه.

آتم قاعده :د یادولو او حفظ څخه مخکې به لومړی د قرآنکریم تجوید او صحي لوستل زده کوي د هغه نه وروسته به حفظ کوي.

نهمه قاعده ،تکرار: د تیر او نوي درس به ګردان او تکرار کوي څکه که تکرار نشي له یاده وځي.

لسمه قاعده : هر ورځ منظم حفظ تر قطع کولو غوره دی.

یوولسمه قاعده: د قرآنکریم آیتونو ته کتل او بیا د حفظ په وخت کې سترګې پټول، که د حفظ په وخت کې یو بل طرف ته وکتل شي دوماغ مصروفیږي.

دوولسمه قاعده: د خپل شیخ او معلم سره ارتباط، هغه ته د درس تکرارول تر څو صحي او علط لوستل ورته معلوم شي.

دیارلسمه قاعده: د قرآنکریم په معنی او مفهوم پوهیدل له حفظ سره کومک کوي.

څلوارلسمه قاعده: دعا کول او د الله سبحانه وتعالی څخه مدد غوښتل.

د قرآنکریم د حفظ وخت او زمان:

- ✓ که د ورځې یو آیت یاد شي نو ټول قرآن به په ۱۷ کاله ۷ میاشتو او ۹ ورځو کې یاد شي.
- ✓ که د ورځې دوه آیته یاد شي نو ټول قرآن به په ۸ کاله ۹ میاشتو او ۱۸ ورځو کې یاد شي.
- ✓ که د ورځې ۳ آیته یاد شي نو ټول قرآن به په ۵ کاله ۱۰ میاشتو او ۱۳ ورځو کې یاد شي.
- ✓ که د ورځې ۴ آیته یاد شي نو ټول قرآن به په ۴ کاله ۴ میاشتو او ۲۴ ورځو کې یاد شي.
- ✓ که د ورځې ۵ آیته یاد شي نو ټول قرآن به په ۳ کاله ۶ میاشتو او ۷ ورځو کې یاد شي.
- ✓ که د ورځې ۶ آیته یاد شي نو ټول قرآن به په ۲ کاله ۱۱ میاشتو او ۴ ورځو کې یاد شي.
- ✓ که د ورځې ۷ آیته یاد شي نو ټول قرآن به په ۲ کاله ۶ میاشتو او ۳ ورځو کې یاد شي.
- ✓ که د ورځې ۱۰ آیته یاد شي نو ټول قرآن به په ۱ کال ۹ میاشتو او ۳ ورځو کې یاد شي.
- ✓ که د ورځې ۱۳ آیته یاد شي نو ټول قرآن به په ۱ کال ۴ میاشتو او ۶ ورځو کې یاد شي.

- ✓ كه د ورځې ۱۵ آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۱ كال۲ مياشتو او ۱ ورځ كې ياد شي.
- ✓ كه د ورځې ۲۰ آيته ياد شي نو ټول قرآن به په ۱۰ مياشتو او ۱۶ ورځ كې ياد شي.

و ما توفيقي الا بالله عليه توكلت واليه انيب

و صلى الله تعالى على محمد صلى الله عليه وسلم و اله و صحابه اجمعين

حمدالله "شاكري" غفره الله ولوالديه و لجميع المسلمين

داراسات الاسلامي – الاكاديمية الاسلامية العالمي

مأخذونه :

جمال القرآن – اشرف علي تهانوي رحمه الله
قرآن كمپليس – طباعة ملك فهد سعودي
برنامج الأحكام التجويد – موقع طريق الاسلام
الواضح في أحكام التجويد – دوكتور محمد عصام
المفيد في علم التجويد – الحاجة حياة على الحسينى
المذكرة في التجويد – محمد نبهان بن حسين مصري
الأخطاء الشائعة في تلاوة القرآن – عبدالرحمن عيتاني .
كيف تحفظ القرآن – دوكتور مصطفى مراد
تبسيط الأحكام التجويد – دوكتور أحمد سليمان
البرهان في التجويد القرآن – محمد صادق قمحاوي
اطلس في التجويد – دوكتور ايمن رشدي سويد
تجويد آسان – دوكتور ابو عاصم عبدالعزيز ، مترجم عبدالكريم محمدي
أحكام التجويد القرآن الكريم كاملة و بالصور – موقع سر الحياة
تجويد ابتدايي – محي الدين مرادي .